

دبڼوالۍ پرمختګ
دافغانستان دبڼوالۍ پرمختیا ملي مؤسسه

دری میاشتنۍ خپرونه

دوهمه ګڼه (تله ،لړم، لیندی ۱۳۹۴ کال) کابل







د امتیاز خاوند : د افغانستان د بڼوالی پرمختیا ملي مؤسسه

کتونکي:

پوهاند غلام رسول صمدي :	د کابل پوهنتون، دکرهنې پوهنځی، دهارتیکلچر څانګې استاد
محمد کبیر حکیمي	دفغانستان دبڼوالی پرمختیا د ملي مؤسسې رئیس
محمد فواد رحیمي	دافغانستان د بڼوالی پرمختیا د ملي مؤسسې معاون
نجیب الله عنایت	دافغانستان دبڼوالی پرمختیا دملي مؤسسې جنرال منیجر
هدایت الله عمرخیل	دافغانستان د بڼوالی پرمختیا دملي مؤسسې دمدیره هییت غړی
محمد رؤف یعقوبي	د افغانستان دبڼوالی پرمختیا دملي مؤسسې د تطبیقي څېړنو آمر

مسؤل مدیر	پوهاند غلام رسول صمدي
مهتمم	محمد جمیل امیري
آدرس	قلعه وزیر، خوشحال مینه ، پنځمه ناحیه ، کابل افغانستان
تلیفون	۰۷۲۹۸۰۴۰۲۸ -۰۷۰۰۲۷۴۵۰۳
انترنتي پاڼه	www.afghanistanhorticulture.org

لړلیک

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان بڼوالی دپرمختیا ملي مؤسسې یو د اساسي موخو څخه دادي چې دمیوه لرونکو ونو په اړوند علمي اوتخنیکي معلومات کروند ګروته وړاندې کړي. د میوو با ارزښته سوداګریزه ډولونه چې په کورني او بین المللي مارکیټ کې ورته اړتیا وي انتخاب کړي اوبیا یې د بڼوالانو په اختیار کې ورکړي تر څوکولای شي زموږ باغداران اصلاح شوي میوو ته لاس رسی ولري.

همدا اوس دبڼوالی دپرمختیا ملي مؤسسه دافغانستان په څو ولایتونو کې په میوه لرونکو ونو چې د کاپیسا په ولایت کې د انارو، زردآلو ، دپروان په ولایت کې په انګورو، د کابل په ولایت کې په انګور ، ګیلاس، منو او آلوبخارا باندې کار کوي، هیره دې نه وي چې د کابل په ولایت کې د ممیزو د وچولو دپاره نمونه وي خونې جوړې کړې دي ، د منو دساتلو لپاره یې په پغمان کې سړې خونې جوړې کړي تر څووکولای شو منې د یو فصل څخه بل فصل ته وساتو، چې د دغه د خرڅولو په واسطه د بڼوالانو اقتصاد تقویه شي. دبڼوالی پرمختیا دملی مؤسسې بله عمده موخه داده تر څووکولای شي ملي سوداګر د کورني اوبین المللي مارکیټ سره آشنا کړي، په همدې موخه همیشه ملي سوداګر بین المللی ننداړتونه لیږي، تر څو وکولای شي د افغاني میوو دخرڅلاو لپاره بهرني بازارونه ارزیابي اوپیدا کړي.

په تیرومیاشتو کې د میوو دوې ډلې سوداګر د تاجکستان اوهندوستان هیوادوته د ننداړتونود ګډون لپاره سفرکړی وو ، چې ښې لاسته راوړنې یې درلودې، ددې سفر راپورونه په همدې مجله کې کتلای شی او ددې سفر په ترڅ کې معلومه شوه چې د افغانستان تازه، وچه میوه اوسبو لپاره ښه بازارونه په سیمه او نړی کې د فیدرالي روسي،هند، متحده اماراتو اوداسې نور بازارونه دي چې د بنوالی پرمختیا ملي مؤسسه به د دولت په همکاری وکولای شي دې بازارونو ته لاره پیدا کړي.

د اندو مؤسسه کوښښ کوي چې د بڼوالی چارو په اړه عملي اوتخنیکي آثاروړاندې کړي تر څو دبڼوالانو د پوهې د لوړولو ، په پایله کې دبڼوالی د سکتور د پیاوړتیا سبب وګرځي.

ومن الله توفیق

محمد کبیر حکیمی

د بڼوالی پرمختیا د ملي مؤسسې عمومي رئیس

د پوهاند غلام رسول صمدي لنډه پیژندنه



پوهاند غلام رسول صمدي د ابوبکر زوی په ۱۳۴۰ کال کې د فراه ولایت ، د بالابلوک ولسوالی ، د ګراني په کلي کې زیږیدلی دی . لومړنی زده کړې یې د ملا عثمان نیکه په منځني ښوونځي کښې ترسره کړي او په ۱۳۵۴ کال کې د فراه ولایت ، د کرنې په مسلکي لیسه کښې شامل او په ۱۳۵۷ کال کښې د نوموړې لیسې څخه فارغ شو. په ۱۳۵۸ کال کې د کانکور د ازموینې وروسته د کابل پوهنتون ، د کرنې پوهنځی ته شامل او په ۱۳۶۱ کال کې د هارتیکلچر او ځنګلونو د دیپارتمنت څخه اول نمره فارغ التحصیل شو.

پوهاند صمدي په ۱۳۶۲ کال کې د کرنې پوهنځی ، د هارتیکلچر او ځنګلونو په دیپارتمنت کې د استاد په توګه مقرر او په ۱۳۶۹ کال کې یې د کرنې پوهنځی د هارتیکلچر او ځنګلونو دیپارتمنت څخه د هارتیکلچرپه څانګه کې ماستري ترلاسه کړه. د هارتیکلچر دیپارتمنت د آمریت او استادی تر څنګ یې د پوهنځی د علمي شورا ، د کابل پوهنتون د علمي شورا ، د کابل پوهنتون د علمي څیړنو د شورا د غړی ، د کابل پوهنتون د علمي مجلې د غړي په توګه دندې ترسره کړي دي. د ۱۳۷۵ څخه تر ۱۳۸۴ کلونو پورې د ملګرو ملتونو د خوراک او کرنې په اداره کښې د بڼوالی چارو کښې کار کړی دی. ددې تر څنګ یې په ډیرو لنډ او اوږد مهاله کورسونو او ورکشاپونو کښې په امریکا متحده ایالاتو ، تایلند ، ترکیه ، بلغاریا ، ایتالیا ، هالند ، تایوان ، هند ، متحده امارات، جنوبي کوریا، تاجکستان او پاکستان هیوادونو کښې ګډون کړی دی.

د انارو او املوکو په بین اللملی سمپوزیمومو کښې چې د هند او ایتالیا په هیوادونو کښې دایر شوی وو، ګډون کړی دی. د ۳۰ څخه زیات ملي او بین المللي اثار لیکلي او نشر کړي دي. د طرح و تحلیل تجارب ، تر عنوان لاندی کتاب یې په دري ژبه ژباړلی دی، همدارنګه د میوو د تولید اساسات ،پاېزېژومیوو، د هارتیکلچر اساسات (د میوو او ګلونو برخي) د انارو او انګورو لاربنود کتابونه او د لسو څخه زیاتې څیړنې یې د بڼوالی په څانګه کې ترسره کړي دي. په ۱۳۸۸ کښې د هغه سکالرشپ په ترڅ کې چې امریکا ته تللی وو ، د انارو ۲۳ غوره ورایټي ګانې یې د کالیفورنیا د ډیوس پوهنتون د میوو د کلکسیون څخه افغانستان ته راوړې ، چی ډیره ښه نتیجه یې ورکړې او د کندهار او جلال اباد د بڼوالی د پرمختیا په مرکزونو کښې تر څیړنې او تکثیر لاندې دی.

او د بڼوالی د پرمختیا پروژې‌سره یې د افغانستان د میوو د ملي کلکسیون په راټولولو او د بادامو د نسلګیری پروګرام کښې ډیر عمده رول لوبولی دی. د بیلابیلو ملي او بین المللي مؤسسوسره د بڼوالی او کرنې په چارو کې دندي تر سره کړي دي او د بڼوالی د سکتور په هکله یې ډیر تربیوي کورسونه دایر کړي دي. د بادامو ، انګورو ، ممیزو ، الوبخارا ، زردالو ، ګیلاسو او پسته په اړوند ځنځری ارزښت څیړنې ترسره کړي دي . د ۱۵ څخه زیاتو د کرنې پروژو د ارزیابی او طرح په چارو کښې چې د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي ادارې لخوا تمویل کیدلي کار کړی دی.

اهمیت باغداری از دیدگاه قرآن

محمدرؤف یعقوبی مدیر بخش تحقیقات تطبیقی مؤسسه ملی انکشاف باغداری افغانستان

مقدمه

یکی از شیوه های زراعت، غرس درخت و باغداری است. بخش بزرگی از غذاهای انسان را میوه ها، محصولات و فرآورده های باغی تشکیل می دهد. انسان به سه شیوه مختلف، مواد غذایی خود را تامین مـی کند. باغداری در کنار غله جات و مالداری، شیوه های تامین خوراک انسانهاست. خداوند در قرآن بنا به علل و عوامل گوناگونی، به مسئله باغ ها پرداخته، بویژه آن که اصولاً تصویری که خداوند برای آینده انسان ها ترسیم میکند، حضور در باغ های سرسبزی است که پر از همه میوه های شناخته شده و ناشناخته بوده و رودها و نهرهای بسیاری در زیر آن جریان دارد که به تازگی و زیبایی آن مـی افزاید و جان را نوازش میدهد و دل ها را شاد میسازد. بهشت نیز همان باغ هایی با زیبایی های آشنا و ناآشنایی است که آدمی در جست‌جوی آن میباشد؛ زیرا این باغ ها است که آدمی به آسایش و آرامش جاویدان و بی پایان میرسد.

باغ، بوستان و درخت

باغ ها و بوستان هایکی از نعمت های بزرگ الهی به انسان است که افزون بر ایجاد فضایی زیبا و روح انگیز، بخش مهمی از خوراک و مواد غذایی انسان را تامین میکند. در آیه ۱۳۳ و ۱۳٤ سوره شعراء از باغهای پوشیده از درخت و چشمه سارها، به عنوان نمونه ای از کمک های خداوند به انسان و نعمت های خاص او یاد شده است. خداوند در هنگام شمارش نعمت های انبوه خویش به برخی از نعمت ها به عنوان نعمت های اساسی و مهم برای بشر اشاره می کند که یکی از آنها باغها و بوستانهای سرسبز با میوه های فراوان و گوناگون است که الله ج در (سوره نبأ ایه ١٤ تا١٦ سوره عبس ایه ١٥ تا ٢٠) راجع به اهمیت و ارزش درخت و بوستان و باغ یاد آور شده است. همین بس که افزون بر تامین خوراک، شرایطی برای آدمی فراهم مـی کند تا به نوعی خاص از آرامش و سرور و شادی دست یابد که از راههای دیگر شدنی و ممکن نیست. در آیه ٦٠ سوره نمل از بوستانها و باغها به عنوان عامل بهجت انگیز (زیبا و شادیافزا) برای انسان سخن به میان می آورد و به آدمی یادآور می شود تا قدر این نعمت بزرک را بشناسد.

از آنجایی که انسان در باغ و بوستان و درکنار چشمه سارها و آب های روانی که از زیر درختان می رود، به شادی و سرور دست می یابد و جان و روحش به آرامش و آسایش می رسد، لذا خداوند با توجه به این گرایش آدمی به بوستان ها و باغ ها، بهشت را نیز به این شکل ترسیم و تصویر می کند و می فرماید که بهشت، دارای بوستان ها و باغ های زیادی بوده که نهرهایی در زیر آن جاری و روان است و این باغ ها دارای میوه های متنوع و گوناگون می باشد و از خرمی وسرسبزی بسیاری برخوردار است. (سوره بقره ایه ۲۵ و آل عمران ایه ١٥، ١٣٦، ١٩٥ و ١٩٨ و آیات دیگر قرآن) خداوند از انسان ها می خواهد در قبال نعمت بوستان ها و باغ ها که به آنان ارزانی داشته سپاسگزار او باشند. (سوره سبا آیه ١٥ سوره یس ایه٣٤ و ٣٥) از این که خداوند شکر این نعمت را واجب و لازم دانسته میتوان ارزش و اهمیت آن را درزندگی بشر- و حتی ماموریت و وظیفه اصلی وی درزندگی دنیوی به دست آورد؛ زیرا باغداری نیازمند تلاش و کوشش انسانی است که موجب میشود تازمین آباد گردد و آبادانیزمین نیز یکی از بخش های ماموریت انسان درزمین وزندگی مادی دنیوی است که در آیه ٦١ سوره هود بدان توجه داده است.

نقش باغ ها در زندگی بشر

باغداری مصداق کاملی از پیشرفت زمین است که بخشی از ماموریت انسان می باشد. آیاتی چون ٤ سوره رعد و ١٨ و ١٩ سوره مومنون و آیه ٦٠ سوره نمل و آیات ٣٣ و ٣٤ سوره یس بیان میکند که آبادانی زمین از رهگذر باغداری و غرس نهال و درخت مهم است. بنابراین میتوان گفت که باغداری یکی از ماموریت های انسان در مقام خلافت در روی زمین می باشد. باغدار با پرورش و محافظت از درختان و بوته ها و نهرها و چشمه ها و بهره وری درست از منابع آب و خاک، به محیط زیست زمین اجازه می دهد تا در شکل کمالی خویش ظاهر شود و زیبایی های خودرا بنمایاند. این که خداوند فساد درزمین را نابودی منابع خاکی و آبی برمی شمارد به سبب عدم استفاده درست و مصرف بهینه از آن هاست. باغداران با بهره گیری درست از منابع خاک و آب به زمین فرصت میدهند تا به بهترین شکل و زیباترین حالت، کمالات خودرا آشکار سازند.

از دیگر نقش هایی که خداوند برای باغداران و درختکاران تعریف می کند و به آن ارزش و اعتبار می بخشد، مسئله تامین ارزاق و روزی خود و دیگر مردم است. آیاتی چون ٢٦٥ سوره بقره و ١٤١ سوره انعام و ٤ سوره رعد و ١١ سوره نحل و مانند آن به نقش میوه ها و باغداری در تامین مواد غذایی و خوراکی بشر توجه می دهد. اگر برای هر انسان و هر شغلی همین اندازه نقش در قرآن تعریف شده باشد می توان گفت که نقش و جایگاه بزرگی برای وی در نظر گرفته شده است؛ زیرا انسان در هر شغل و کار دیگری نمی تواند تا این حد برای خود و جامعه و هستی مفید باشد. مسیری که باغدار با کارهای خویش طی می کند، نه تنها مسیری کمالی برای خود است بلکه فرصت و زمینه هایی مساعد و مناسبی را برای بسیاری از موجودات چون پرندگان و چرندگان و مانند آن فراهم می کند. و به دیگر انسان ها نیز کمک و یاری می رساند تا خوراک خویش را بی دغدغه تأمین کنند. البته نقش باغدار چنان که در آیات قرآنکریم آشکار میگردد نقش کسی است که همواره در عبادت و بندگی است، زیرا عبادت جز اطاعت از خداوند و حرکت در مسیر رشد و تعالی برای خود و ایجاد فرصت رشد و کمال برای دیگران به عنوان خلیفه الهی در روی زمین نیست که باغدار به خوبی آن را انجام میدهد.

انواع باغ ها و بوستان ها و تنوع آن

برخی از درختان در تمام طول سال سرسبز و شاداب هستند که از جمله می توان به زیتون، مرکبات (ستروس)، کیله و نخل (خرما) و مانند آن اشاره کرد. برخی دیگر در فصلی سبز هستند و برگ هایشان در طول فصل ها به رنگ های متنوع و زیبایی در می آیند و در آخر، برگ هایشان را از دست می دهند. برخی پیش از آن که برگ دهند گل و شکوفه می دهند و برخی دیگر اول برگ می دهند و سپس شکوفه و گل می دهند. برخی میوه های انبوهی دارند و برخی دیگر انبوه نیستند. برخی نیاز به شاخه بری دارند و برخی دیگر این گونه نیست. برخی از درختان میوه های با خسته دارند و برخی دیگر بی خسته هستند. برخی از آنها نیازمند تکیه گاه و چیله هستند چون انگور و کیوی و برخی دیگر این گونه نیست. برخی شکل بته یی دارند و برخی درختی. این ها نشان دهنده تنوع و گوناگونی درختان و شکل و شمایل آن هاست. در میوه ها نیز می توان این تنوع را در رنگ ها و طعم ها و مزه ها دریافت. چنان که می توان تنوع های دیگر شیوه مصرف یا خوردن آنها مانند میل نمودن با پوست، بی پوست آن مشاهده کرد. آن چنان تنوع در جهان میوه ها و درختان میوه وجود دارد که آدمی با هر مزاج و طبع و گرایش و میلی میتواند به انواعی از میوه ها خودرا خشنود و بهره مند سازد. بخشی از میوه ها سردسیری و برخی گرم سیری هستند و برخی نیز چند بار میوه میدهند و هنوز میوه ای به کمال نرسیده و تمام نشده، شکوفه ها ظاهر میشوند و گل میدهند. برخی دیگر تنها یک بار گل میدهند و میوه دارند.



میوه های قرآنی

از جمله میوه هایی که در قرآن از آنها یاد شــده می توان به انار (سـوره انعام۹۹و۱٤۱)، انگور، خرما، زیتون، انجیر (سوره تین) اشاره کرد. این میوه ها مخصوص مناطق گرم سیری و استوایی است که به وفور یافت می شود. هر یک از این میو ه ها از خصوصیات دارویی و درمانی منحصر ـ به فردی برخوردار اند. باغداران مسـلمان در هر کجای جهان که زندگی میکنند و هـر گونه باغـی را که احداث میکنند و درختان را نگهداری و پرورش میدهند در نقش بنده خداوند ظاهر میشـوند که مأموریت الهی را به انجام میرساند. از این رو آنان را می توان عابدانی دانسـت که در تمام طول شبانه روز به عبادت و بندگی و اطاعت مشـغول هسـتند. آنان با هر کمکی که به رشد درختان می کنند تسبیح خداوند را میگویند.

وظایف باغداران

خداوند برای باغداران تکالیفی عام و تکالیفی خاص تعریف کرده است. از وظایف عام آنان همانند دیگر افراد بشـر این است که اهل تسـبیح حق بوده و ربوبیت الهی را درکارهایشـان توجه داشته باشند و از آن چه خداوند به ایشان روزی میدهد به دیگران ببخشـد و انفاق کنند (سوره قلم آیه ۱۷تا۲۹) از وظایف خاص ایشان آن است که هنگام گردآوری محصول و میوه ها، بخشی از آن را به نیازمندان ، محرومان و سائلان منحیث عشر و زکات بدهند و دراین باره بخل نورزند؛ زیرا بخل ورزی ایشان نشـانه ظلم آنان تلقی میشود و خشم الهی را به دنبال خواهد داشت. از نظر خداوند تنها باغدارانـی بخل میورزند و از میوه و فرآورده های باغـی به دیگـران چیزی نمی بخشـند که غافل از یاد خداوند باشند و خداوند را درزندگی خویش مدنظر قرارندهند. برخی از باغداران به سـبب باغ ها و بوسـتان های بزرگ و متعدد، گرفتار کبر و غرور میشـوند و همین تکبر و خود خواهی و غفلت از خداوند موجب میشـود تا در نهایت رفتاری به دور از انسـانیت از خود بروز دهند و نسـبت به بینوایان و نیازمندان بی توجهی نمایند و حق و حقوق آنان را ندهند (سـوره کهف آیه ۳۲ تا ٤۲) در همه اموال حقوق نیازمندان و سائلان قرار داده شده و اگر آن را پرداخت نکنند همانند کسی هستند که حق و باطل را درهم آمیخته و حلال و حرام را با هم می خورند.

خداوند درآیاتی چند از جمله آیه ۱۹ سـوره ذاریات و ۲٤ و ۲۵ سـوره معارج به حقوق این دو دسته در همه اموال مردم اشاره می کند. بنابراین باغداران باید توجه داشته باشند که در روز گردآوری محصـول و چیدن میوه ها حقوق این دو گروه را ادا کنند و مانند صاحبان آن باغی نباشند که هنگام دیدن نیازمندان و مراجعه آنان به باغ خویش برای گرفتن حق خود، با آنان خشونت می کردند و خشم می گرفتند و به همین سبب باغ بوستان آنان به خشم و غضـب الهی سوخت و از بین رفت. همان گونه که با شاخه بری کردن تاک های انگور و دور ساختن شاخه های خشک بیمار و مبتلا به آفت، محصـول درختان و بوته ها میوه افزایش می یابد با دادن حقوق نیازمندان و سـائلان نیز میوه های درختان افزایش یافته و برکت باغ و بوستان زیاد میشـود. بنابر این نباید در این باره بخل ورزید و یا شبانه و پنهانی به جمع محصولات و میوه ها اقدام کرد چنان که صاحبان باغ هایی که در سوره کهف و قلم از آنان سخن به میان آمده این گونه عمل کردند و با باغ های ویران و سوخته شده مواجه شدند.

نتیجه گیری

درحقیقت انسان هرچه بر سر خود می آورد به سبب افکار و رفتارهای زشت خود اوست که این گونه به شکل صاعقه و فرورفتن آب و سیل و توفان و بادهای گرم و سوزان در می آید و بوستان های زیبا و میوه های فراوانش را از بین می برد.

قبلاً گفتیم که درختان هر يك به تنهایی آیاتی هستند که قدرت و توانایی خداوند را در منظر چشم هر بیننده ای به نمایش می گذارند و هر بخش از این آفرینش عجیب و زیبایِ خداوند، دفتری عظیم از معرفت خداوند بزرگ می باشد; سعدی می گوید :

برگِ درختانِ سبز در نظر هوشیار

هر ورقش دفتری است معرفت کردگار

ولی باید توجه داشت که آن نکته اساسی که در کارِ خلقت و آفرینش درختان همواره مورد غفلت قرار می گیرد و تنها عده ای اندك که دانایان حقیقی و به قول قرآن «اولوا الالباب»اند بدان وقوف و آگاهی پیدا می کنند، همانا »آفرینش حیات در دلِ بذر و نهالی است که به مرور ایام از آن درختی تنومند می سازد «.

ما هر گاه به درخت می نگریم، پیش از هر چیز محو جمال ظاهری آن و برگ و شکوفه و میوه اش می شویم و کمتر کسی یافت می شود که از این پرده و حجاب ظاهری عبور کرده، به عمق و معنا و حقیقت مطلب پی ببرد.

مأخذ

۱. مصطفی خرمدل تفسیر نور

۲. زارع پور گیاهان و میوه ها در قرآن http://m3657z.blogfa.com/post-1438.aspx

۳. محتشم مؤمنی درخت در قرآن http://www.shareh.com/persian/magazine/jahad/35/09.htm

د باغ د ځای او د نیالګیو انتخاب

پوهاند غلام رسول صمدي د کرنې پوهنځی
د هارتیکلچر د څانګې استاد

سریزه

باغ جوړونه او روزنه یو ټاکلي پوهې، پلان او پانګې ته اړتیا لري. د میوه لرونکې ونو تولیدي عمر اوږد دی او د کښېنولو وروسته د ۴ څخه تر ۸ کلونو پورې په لومړني حاصل ورکولو پیل کوي (۷). نو له دې امله د باغ جوړولو د ځای یا موقعیت او د نیالګي په انتخاب کې باید زیاته پاملرنه و شي.

مخکې تر دې چې د باغ جوړولو او د نیالګي د انتخاب په هکله تصمیم ونیول شي، باید د باغ د جوړولو ځای او د نیالګي د انتخاب په هکله هر اړخیزې پلټنې وشي. په دې مضمون کې هغه عوامل چې د باغ جوړولو د ځای په ټاکلو او د نیالګي په انتخاب کې ډیر مهم او غوره دي تر بحث لاندې نیول کیږي.

اول: د میوه لرونکي نیالګي انتخاب

څرنګه چې باغ جوړونه یوه اوږده پروژه ده او د میوو ونې اوږد تولیدي عمر لري، نو له دې امله د میوې د ډول په انتخاب کې باید جدي غور او پاملرنه وشي (۵). د میوې د ډول په انتخاب کې باید دوه ټکي په نظر کې ونیول شي، یو دا چې د میوې نیالګی باید د چاپیریال سره توافق ولري او دوهمه خبره دا چې د میوې د پلورلو مارکیټ وجود ولري (٤). برسیره پر دې نور ټکي هم د میوې د نیالګي په انتخاب کې باید په پام کې ونیول شي اوهغه عبارت د میوې بڼه رنګ، د میوې وختي یا ناوخته پخیدنه، د میوې غټوالی یا کوچنیوالی، د وچکالۍ، ناروغیو او افتونو په مقابل کې مقاومت، ګرده برابرونکی ته د اړتیا شته والی یا نشتوالی، د میوې د ساتلو او انتقال توان او همدارنګه د میوې د حاصل او بازار موندنې په هکله معلومات راغونډ شي (۳).

د میوه لرونګو ونو پیوندي نیالګي باید دا لاندې خصوصیات ولري:

- پیوندي نیالګي باید قوي او ښې نیلې ولري
- د پیوند ځای باید د ځمکې څخه د ۲۰ څخه تر ۳۰ سانتي متره لوړوي
- پیوندي نیالګي باید د ۱ څخه تر ۱.۵ سانتي متره د پیوند د ځای څخه لوړ وي
- د پیوندي نیالګي تنه باید مستقیمه وي
- پیوندي نیالګي باید د افتونو او ناروغیو څخه خالي وي
- پیوندي نیالګي باید د کښېنولو په وخت کښې د حشراتو او فنګسونو په ضد دواسره معامله شي
- پیوندي نیالګي باید لیبل ولري، ورایټي، مورنۍ نیله ئې معلومه، سرچینه یې باوري او تصدیقي وي
- د پیوندي نیالګي عمده ښاخونه باید د ٦ څخه لږ نه وي
- د پیوندي نیالګي د لومړني ښاخ لوړوالی باید د ځمکې د سطحې څخه ۴۵ سانتي متره لیرې نه وي



۱. انځور: معیاري پیوندي نیالګی.

دوهم : اقلیم

د پسرلي د تودوخې بدلون، په پسرلی کې د سړې هوا جریان پیدا کول او د بادسرعت باید په پام کې ونیول شي (۳) .د میوه لرونکې ونې توافق باید د محیط سره په هر اړخیزه توګه وڅیړل شي، مخکې تر دې چې د ټاکلو میوه لرونکو ونو باغ جوړ شي ، باید د سـیمې باغونه وکتل شي، چې د نوموړې میوې باغونه په سیمه کې وجود لري که نه ، په یې اړوند معلومات راغونډ شي . د باغ جوړولو له پاره باید داسې ځای انتخاب شي ، چې د پسرـلي او منې د سړې هوا د خطرونو امکانات وجود ونلري (۷).

پاڼریژې میوې په ژمي کې یوې ټاکلې اندازې سـړې هوا (د ۲،۷ سـانتي ګرید څخه ټیټې درجې) ته اړتیا لري چې د ګل پندکونه وســپړي او میوه تولید کړي (۷).

په هغه سیمو کې چې دژمـــي سړه هوا په کافي اندازه وجود ونه لري، ونه غټیږي، خو ګل او میوه نه کوي (٤،٦). د بیلګې په توګه سړې زراعتي مڼې (Red Delicious) ډیرې اوږدې سړې هوا ته چې ۱۰۰۰ سـاعتونه دې اړتیا لري ,حال دا چې د انګورو د ســړې هوا اړتیا ډیر لـږ یعنې ۱۰۰ سـاعته ده (۷) . د پاڼرویژو میوو د ســړې هوا اړتیاوې یو له بله سره توپیر لري، په ۱- جدول کې د بیلابیلو پاڼریژو میوو د سړې هوا اړتیا ښودل شوي ده (۷).

۱- جدول: د پاڼریژو میوو د سړې هوا اړتیاوې(۷٬۲).

د میوې ډول	د سړې هوا اړتیا په ساعت سره (د ۲،۷ سانتي ګرید څخه ټیټې درجې)
زراعتي مڼې	۸۰۰ تر ۲۰۰۰
ناک	۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰
زردالو	۴۰۰ تر ۱۰۰۰
شفتالو او شلیل	۴۰۰ تر ۱۰۰۰
ګیلاس	٦۵۰ تر ۱۳۰۰
جاپاني الو	٦۰۰ تر ۱۲۰۰
اروپائي الو	۸۵۰ تر ۱۱۰۰
انګور	۱۰۰
بادام	۳۰۰ تر ٦۰۰

هغه میوې چې د سړې هوا اړتیاوې یې د ۳۰۰ څخه تر ۵۰۰ ساعتونو پورې وي ، په هغو سیمو کې چې په کال کې یو ځل یا دوه ځله واورې کیږي هم میوه ورکوي، هغه میوې چې د سړې هوا اړتیاوې ئې خورا ډیرې زیاتې دي، ډیر سـاړه ژمي ته اړتیا لري ، چې میوه تولید کړي.

دریم : اوبه

څرنګه چې د افغانستان کلنی اورښت ډیر لږ دی، نو د میوو لرونکو ونو د بدني ودې او میوې د تولید له پاره په وده ایز موسم کې باید په کافي اندازه اوبه موجودې وي ، تر څو د اوبو کمښت د ونې پر بدني ودې او د میوې پر حاصل باندې منفي اغیزې ونه کړي .هغه ځمکه چې د باغ جوړولو له پاره انتخاب کیږي باید د ځمکې لاندې اوبو سطح یې مخ ته ډیره نږدې نه وي(٤).

څلورم : خاوره

د باغ جوړولو له پاره باید داسې خاوره چې قوي (ښیرازه)،ښه زهکښـــی شـوي وي او مالګه ونه لري انتخاب شي، خاوره باید لږ تر لږه دوه متره ژوره وي، ډبرې ، سختې طبقې ونه لري او په هغه خاورو کې چې پخوا باغونه جوړ شوي وي ، باید کوښښ وشي چې هلته د همغو میوو باغونه جوړ نه شي (٥،٦).

پنځم : ګرده برابرونکی

برسیره پردې چې د اکثرو میوو لرونکی ونو ګلونه نارینه او ښځینه الې لري، خو د عیني ګل نارینه اله ښځینه اله نشي ګرده افشاني کولای. د دې له پاره چې القاح صورت ونیسي او میوه تولید شي ، باید د عین میوې دوه ډوله چې یو د بل‌سره د ګرده افشانی او القاح کیدو توان ولري ، کښینول شي . د بیلګې په توګه شفتالو او ژیړي مڼې (Golden Delicious) ګرده برابرونکی ته اړتیا نه لري، حال دا چې سرې مڼې (Red Delicious) ګرده برابرونکی ته چې ژیړې مڼې (Golden Delicious) ۹ په مقابل د یو ۱:۹ ته اړتیا لري. یعنی د ۹ سرو مڼو په مقابل کې یوې ژیړې مڼې ته اړتیا شته ، چې په باغ کې کښینول شي او یا داچې د هرې ونې منځنی ښاخ په ګرده برابرونکې ورایتي باندې پیوند شي. د شاتو مچی ډیرې ښې د ګرده لیږدونکې دي او په یو جریب باغ کښې یوه غښتلې کورنی د شاتو د مچیو باید په مناسب ځای کښې کښیښودل شي، د ښه ګرده افشانی سبب ګرځي او ښــه حاصــل تولیدیږي . د بادامو په باغ کې باید درې قطاره د اصـلي ورایټي او یو قطار د ګرده تولیدونکي ورایټي څخه وکـرل شي ، ګـرده تولیدونکی ورایټي باید د اصلي ورایټي څخه لیرې و نه کرل شي (۱ ، ۳).

شپږم : د نیالګیو تر منځ واټن

د میوو د نیالګیو تر منځ واټن په ځینو عواملو لکه د میوې ډول، نیله بوټی، د خاورې ډول، کرنیزو عملیاتو او اقلیمي شرایطو پورې اړه لري (٣،٤).د لمر وړانګې او پانې د دوو هغو مهمو عواملو څخه دي چې د ونې په بدني ودې او حاصل پورې تړاو لري.

که چیرې د میوو نیالګي ډیر نږدې کښــینول شي، یو ښاخ پر بل ښاخ راشي یا یوه پاڼه پـر بلـې پاڼـې باندې واقع شي، په دې حالت کــې د ضیایي ترکیب عملیه په کافي اندازه صورت نه نیسي ــ او هم د ونې قد نه کنترول کیږي ، یعنی پوره رڼا ونې او دهغی ښــاخونو او پاڼو ته نه رسیږي . چې په پایله کې داسې میوه چې کیفیت یې خراب او حاصل یې لږ وي تولید یږي . که د میوه لـرونکو ونو نیالګـي ډیـر لیـرې یا په اوږده واټن کښـینول شي د ځمکـې د ضایع کیدو سبب کیږي او غیر اقتصادي تمامیږي یعنی بیا هم حاصل لږ وي (٥،٧).

د بيلابيلو ميوو د ونو او قطارونو تر منځ واټن په ۲- جدول کې ښودل شويدی .

۲-جدول :د بيلابيلو ميوو دو نو او قطارونو تر منځ واټن (۱،۳).

ميوه	د ونو تر منځ (متر) واټن	د قطارونو تر منځ (متر) واټن
مڼې	۵	٦
ناک	۴	٦
بادام	۵	٦
زردآلو	٦	٦
شفتالو	۴	۴
ګيلاس	٦	٦
آلو	۵	٦
انار	۴	۴
به	۴	۴
انګور	۲	۳
چهارمغز	۱۵	۱۵
ستروس	۴-۵	۴-۵

د پورتني جدول په پام کې نيولو سره که چيرې د ميوه لرونکو ونو نيالګي په مناسبه او معين واټن کښينول شي ، نه دا چې يوازې د ځمکې د ضايع کيدو سبب نه کيږي ، بلکه د ميوې د حاصل د زياتوالي او ښه کيفيت د توليد کيدو باعث هم ګرځي (٣،٦).

Abstract

Selection of Orchard Site and Saplings

Professor Ghulam Rasoul Samadi

Horticulture Department, Faculty of Agriculture

Selecting a suitable site and improved saplings are important factors during establishing an orchard. Fruit trees have relatively long productive life and usually start bearing from the 4th to 8th years after their planting. Therefore one should carefully think about site and cultivar selection.

There are many factors in the establishment of an orchard, but selection of cultivar which suits the climatic condition and also has local and international market, are counted. With other environmental factors in the establishment of an orchard, frost hazards of spring and autumn, chilling requirement, type of soil, availability of water, presence of pollinizer and distance between rows and plants in a row should be strictly considered.

References

1. Bal, J.S. 1997. Fruit growing. Kalyani Publishers. New Dehli.
2. Chattopadhyay, T.K. 1994. A text book on pomology. Vol 1: Fundamentals of fruit growing. Kalyani publishers, New Dehli, India.
3. Malik, M.N. 1994. Horticulture. National book foundation. Islamabad. Pakistan.
4. Pennsylvania state university.2003. Tree fruit production guideline. USA.
5. Reid, B.O. and W. Reid. 2007. Fruit and nut production. Stipes Publishing L.L.C. Illionois, USA.
6. Sing. A. 1980. Fruit physiology and production. Kalyani publishers. New Dehli. India.
7. Westwood, M.N.1978. Temperate-Zone Pomology. Revised edition, Timber Press, Portland, Oregon.

ښې کرنیزې چارې

پوهاند غلام رسول صمدي او پوهنمل حامد سالاري
د کابل پوهنتون ، د کرنې پوهنځی ، د هارتیکلچر د څانګې استادان

سریزه

په دې وروستیو کلونو کې د نړۍ زیات شمیر هیوادونو ته د کرنیزو توکو صادرول د ددې توکو د خوندیتوب په برخه کې د قوي ستونزوسره مخامخ دي. د ځینو هیوادونو له تجربو څخه داسې ښکاري چې د کرنیزو توکو د خوندیتوب د معیارونو عملي کول په وروستــــــــته پاتې هیوادونو کې یو ســتونزمن کار دی. د ځینو مهمو ســتونزو په توګه کولای شــو د بزګرانو بیسوادي او د غذایي موادو د خوندیتوب په ارزښت نه پوهیدل، د دولتي او غیر دولتي ادارو د پاملرنې لږوالی، د مجهزو لابراتورونو نشـــــــتوالی، د بزګرانو د رواجي کرنې د ذهنیت بدلول، د پیرودونکو لخوا د غذایــي موادو د خوندي کولو په برخه کې د اضافه شوو لګښــــتونو په نظر کې نه نیولو ته اشاره وکړو.

د خوراکي توکو د خوندیتوب د معیارونو د عملي کولو تـر ټولو لویه انګیـزه ددې ظرفیت پیدا کول دي چې نویو بازارونو ته لار پرانیزو. د افغانســــتان ځیني میوې او ســــــــابه لکه انګور، انار، مڼې، زردآلو، خټکي او نور له وړاندې په ســـیمه ییزو او حتی نړیوالو بازارونو کې د خپل لوړ کیفیت له امله ځانګړې شهرت لري. د ځانګړې شهرت سربیره په افغانســـــتان کې میوې او سابه په مناسب او د سیالۍ وړ لګښت سره تولیږي. ددې ځانګړو خصوصیاتو تر څنګ د خوندیتوب په برخه کې د ډاډ او باور را منځ ته کول کولای شي د میوو او سبو د مارکیټ په پراختیا کې مرسته وکړي.

کینیا، جنوبي افریقا، هندوســتان، فلیپین، او تایلیند د ښــو کرنیزو چارو د عملي کولو له امله د کرنیزو توکو د صـــــادراتو په برخه کې د خپلو بریالیو لاســـته راوړنو لپاره په نړیواله ســطحه پیژندل شـــوي دي. د هغوی د بریالیتوب یو راز دا دی چې د نړیوالو بازارونو تر څنګ یې د لوړ ارزښته سیمه ایزو او کورنیو بازارونو لکه سوپر مارکیټونو، رستورانونو او نورو لپاره د خوراکــي توکو د خوندیتوب معیارونه په نظـــر کـــي نیولي دي (Flores, 2010).

د ښو کرنیزو چارو عملي کول د کرنیزو محصولاتو د کیفیت او خوندیتوب د ښــه کیدو او د نړیوالو معیارونوسره د ســمون لامل کیږي او له دې لارې محصولات لوړ ارزښته مارکیټونو ته لار پیدا کوي. ددې چارو عملي کول د محصـــولاتو د تولید لګښـــتونه زیاتوي او دا خطر را منځ ته کوي چې لږ ځمکه لرونکي بزګران په مارکیټ کې ســــــیالي و نه شي کولاې. دا خطر کیدای شي د کرنیزو اتحادیو او کوپراتیفونو د جوړولو له لارې حل شي

د ښو کرنیزو چارو موخې

د ښو کرنیزو چارو موخې په لاندې ډول دي (Anon, 2011):

۱. په غذایي ځنځیر کې د محصولاتو د خوندیتوب او کیفیت په هکله د ډاډ او باور منځ ته راوړل

۲. د خوراکي توکو د عرضه کولو په ځنځیر کې د بدلون له لارې نویو بازارونو ته لاره پیدا کول

۳. د طبیعی زیرمو څخه په مناسب ډول ګټه اخیستل

۴. د کارګرانو روغتیا ته پاملرنه او د کار کولو د شرایطو ښه کول

۵. بزګرانو او صادرونکو ته د نویو بازارونو پیدا کول

د ښو کرنیزو چارو اساسي عناصر

د ښو کرنیزو چارو اساسي عناصر په لاندې ډول دي (Anon, 2011):

۱. د ستونزو د رامنځته کیدلو څخه وړاندې د هغوی مخنیوی کول

۲. د خطر ارزونې

۳. په هره کچه د خوراکي توکو د خوندیتوب په وړاندې تعهد کول

۴. د تولید د ځنځیر په اوږدو کې د ارتباط ساتل

۵. د کارکوونکو لپاره د کار په ســـــاحه کې په اجباري توګه د تعلیمي پروګرامونو په لاره اچول

٦. د ساحې او سامان آلاتو پاک ساتل

۷. د آفتونو هر اړخیز کنټرول

۸. پلټنه او د مقرراتو عملي کول

د یوه خپلواک دریم پلاوې له خوا د تائید تر لاسه کول.

د ښو کرنیزو چارو اساسات

د تولید په هره مـرحله لکه د کـروندي انتخاب، د کـرلو څخه وړاندي د ځمکي تیارول، تولید، د حاصلاتو راټولول او د حاصلاتو د راټولولو څخه وروسته چارو کې باید د خاورې، اوبو، لاسونو او سـاحي پاکوالي ته پاملرنه وشي .

پاکه خاوره: په خاوره کـې د میکـروبونو د کچـې د راټیټولو لپاره ګامونه پورته کول د ښـو کرنیزو چارو له مهمو اسـاسـاتو څخه ګڼل کیږي. د کروندي په خاوره کې د میکروبونو کچه د حیواني او نورو عضـوي سرو په استعمال او د کروندې د ننه د اهلي او وحشيـ ځارویو په ننوتلو او هلته په ځرولو پوري اړه لري. د ښـو کرنیزو چارو د معیارونو له مخې هغه حیواني او عضـوي سرې چې په کرونده کي استعمالیږي باید په بشـپړ ډول خوسا شوي وي. له بلې خوا د کروندې د ننه د اهلي او وحشـــي ځارویو د موجودیت لږول هم د کروندې د خاورې د میکروبونو په لږولو کې مرسـته کوي.

پاکي اوبه: تر ټولو د مخه باید دا ډاډ تر لاسه شي چې ټولې هغه اوبه چې د محصـول د مینځلو، سرولو او یا پروسس په برخه کې کار تري اخیسـتل کیږي د ځنبـلو وړ او پاکي دي. د یخ هغه ټوټې چې د ځینو محصـولاتو په بسته بندی کې کار تري اخیستل کیږې باید د څنبلو وړ اوبو څخه لاس ته راغلي وي. د ځمکې پر سـطحه رواني اوبه باید د ځارویو پواسـطه د ککړیدو او بي ځایه ضـایع کیدلو څخه وسـاتل شي. هغه اوبه چې د اوبو لګوني لپاره اسـتعمالیږي او یا دونو پر پاڼو او څانګو شـیندل کیږي باید د میکروبونو څخه پاکې وي. په منظم ډول د ټولو اوبو او په ځانګـړې توګه د ځمکې پر سطحه د روانو اوبو د کیفیت معلومول یو اړین کار دی.

پاک لاسونه: کارکوونکې باید په کروندو، د محصـولاتو د بسـته بندی په خونو او د محصـــولاتو د پروسس په فابریکو کې خپل ځانونه په تیره بیا لاسونه پاک وساتي او پوره حفظ الصـحه مراعات کړي. د محصـولاتو د بسته بندي په خونو کې د پیرودونکو لپاره د مینځلو د آسانتیاوو برابرول هم زیات اهمیت لري .

پاک ځایونه :د محصـولاتو د بسـته بندی اړوند ټول وسایل، د کار کولو سـطحې، د زیرمه کولو ځایونه او د انتقال وسـایط باید په منظم ډول هره ورځ ومینځل شي. ددې سربیره هغه تجهیزات چې په کرونده کې کار تـرې اخیستل کیږي هم په منظم ډول مینځلو ته اړتیا لري.

د ښو کرنیزو چارو ګټې

۱. کارګران او مصرفوونکي به مصؤن وي

۲. د کروندګرو او د هغوی د کورنیو د ژوند چاري به ښې وي

۳. خوندي غذايي مواد به په پراخه کچه موجود وي

۴. د محصولاتو خوندیتوب، کیفیت او غذایي ارزښت به لوړ وي

۵. د حیواناتو د اوسیدو لپاره به مناسـب ځای شـتون ولري او کافي غذا به ورته موجوده وي

٦. د کیمیاوي موادو د ښــه تنظیم په پایله کې به چاپیریال او خاوره پاکه وساتل شي

د ښو کرنيزو چارو مقررات

ميوي او سابه د انسانانو د غذا مهمه برخه جوړوي او د استفادي کچه يي په نړۍ کې ورځ په ورځ د زياتيدو په حال کې ده. ددې تر څنګ د هغه ناروغيو کچه هم د زياتيدو په حال کې ده چې د خوراکي توکو له کبله را منځ ته کيږي. د ځينو داسي ناروغيو د خپرنو څخه داسي شواهد لاس ته راغلي چې د نوموړو ناروغيو اصلي لامل د ناوړه کرنيزو چارو څخه ګټه اخيستل په ګوته کوي. دې برخي ته درسنيو پاملرني د خوراکي توکو لوی پرچون پلورونکي دي ته اړ کړل چې په بزګرانو فشار زيات کړي تر څو د خوراکي توکو د ککړتيا د کچي درا ټيټولو په خاطر له ښو کرنيزو چارو څخه ګټه واخلي (Anon, 2011) .

ښې کرنيزې چارې د محصولاتو په توليد او د توليد څخه وروسته سمبالولو کې د هغه پوهې او مهارتونو عملي کول دي چې له يوې خوا د کرنيزو توليداتو د خونديتوب او روغتيا سبب کيږي او له بلې خوا د چاپيريال د ککړتيا او بې ځايه لګښتونو څخه مخنيوی کوي. د ميوو او سبو په توليد او سمبالولو کې د ځينو مهمو مرحلو لپاره ښې کرنيزې چارې په لنډ ډول وړاندې کيږي:

I. د ټولولو څخه مخکې مرحلې

أ. د ساحې ټاکل :د ميوو او سبو د کرلو لپاره بايد ځمکه د ناروغيو او آفتونو د تاريخچې، د حيواني سرې د استعمال او نوبتي کرنې پر بنسټ وټاکل شي. کرونده بايد د ځارويو د اوسيدلو له ځايونو او څرځايونو څخه لرې وي او بزګران بايد ډاډ ترلاسه کړي چې د ځارويو فاضله مواد د توليد ساحي ته د

ب. اوبو يا باد د جريان پواسطه نه داخليږي.

ج. د مناسبو نباتاتو ټاکل :په هغه کروندو کې چې په همدې کال کې حيواني سره په کې استفاده شوي وي بايد هغه سابه و نه کرل شي چې د ريښو او يا پاڼو څخه يي د خوراکي موادو په حيث کار اخيستل کيږي.

د.د باغ لپاره د ساحې تيارول : د باغ جوړولو لپاره بايد لږ تر لږه د يو څخه تر درې کاله مخکې ساحه انتخاب او آماده شي. د ساحې په آماده کولو کې د خاورې آزمايښت (Soil testing)، د نيالګيو د کچي معلومول، د عضوي موادو د کچي معلومول، د څو کلنو هرزه بوټو کنټرول، زيم ايستنه (زهکشي)، د خاورې ژوروالی، ميلان، د خاورې حاصلخيزي، د خاورې پي اچ (pH)، په ساحه کې د تيرو او پرخي (Frost) موجوديت او داسي نور په پام کې نيول کيږي. د باغ جوړولو څخه مخکې ټوله کرونده يا هغه برخې چې ونې په کې کښينول کيږي بايد تعقيم شي. تعقيم کوونکي کيمياوي مواد د ۱۵، ۳۰ او ۴۵ سانتي مترو په ژوروالي په خاوره کې ځای په ځای کيږي. د باغ د خاورې د تخريب څخه د مخنيوي لپاره بايد په باغ کې پوښښي نباتات وکرل شي او يا د عضوي موادو څخه د ملچ (Mulch) په حيث کار واخيستل شي.

ه.نيلي بوټي او ورايټي ګاني: تصديق شوي او د مشتري د خوښې وړ ورايټي ګاني بايد وکرل شي

أ.د حيواني سرې استعمال : حيواني سره د نبات لپاره د ضروري عناصرو ارزښتناکه منبع ده خو که په مناسبه توګه سمبال نه شي نو د ميکروبونو لويه منبع هم ده. حيواني سره بايد د کنټرول شوي تخمير څخه وروسته د بکتريا څخه پاکه شي او په بشپړ ډول د خاورو سره ګډه شي. ددې سرې د سطحي استعمال څخه ډډه وشي تر څو د ناروغيو د کچي په ټيټولو کې مرسته کوي. حيواني سره بايد د تازه ميوو او سبو له کروندو څخه لرې زيرمه کړل شي او د باد په واسطه د انتقال د مخنيوي لپاره بايد فزيکي خنډونه ورته جوړ شي. زيرمه شوي حيواني سره بايد په دوامدار ډول ګډه کړل شي تر څو د سرې په منځنۍ برخه کې توليد شوي لوړه تودوخه مضره ميکروبونه له منځه يوسي. حيواني سره بايد د سبو او ميوو په کروندو کې د توليدي موسم په پای کې تطبيق شي.

ب. د کمپوسټ استعمال :کمپوسټ بايد د محلول په ډول استعمال نه شي او د نباتاتو پاڼې بايد هيڅ وخت هم د کمپوسټ پواسطه و نه پوښل شي. همدارنګه د سطحي اوبو سره د کمپوسټ د ګډيدو څخه بايد مخنيوی وشي.

ج. د کيمياوي سرې استعمال : ټول هارټيکلچري محصولات د خپلې ودې لپاره نايتروجن، فاسفورس، پوتاشيم او نورو ضروري عناصرو ته اړتيا لري. بزګران کولای شي چې خپلو نباتاتو ته نايتروجن او نور اړين عناصر په ترکيبي ډول د کيمياوي، حيواني او نباتي سرو يا کمپوسټ له لارې برابر کړي .

د. اوبه لګونه: هغه اوبه چې د اوبولګولو لپاره استعماليږي بايد د ميکروبونو څخه پاکې وي. د حاصلاتو د توليد لپاره د ښو اوبو څخه په پراخه پيمانه ګټه اخيستل ناشونی کار دی په همدې خاطر د اوبولګولو لپاره له سطحي روانو اوبو څخه کار اخيستل کيږي. دا اوبه بايد په هرو دريو مياشتو کې يو ځل د ميکروبونو د کچې د معلومولو لپاره په لابراتوار کې و آزمويل شي. د ټيټ کيفيت درلودونکي اوبه بايد د فلتر کولو څخه وروسته د اوبو لګولو لپاره استعمال شي او تل بايد کوښښ وشي تر څو د ميوې او د سبو پاڼې د اوبو سره په تماس کې را نه شي. د امکان په صورت کې د اوبو لګونې د څاڅکو د طريقې (Drip irrigation) څخه بايد کار واخيستل شي. دا کار له يوې خوا د نبات او اوبو تر منځ تماس لږوي او له بلې خوا د اوبو څخه په اغيزمنه توګه ګټه اخيستل کيږي (Carolyn, 2001).

ه. کرنیز تناوب: په نوبتي ډول د نباتاتو کرل ډیر اړین کار دي، په ځانګړي ډول د سبو په کښت کې د کرنیز تناوب عملي کول له یوېخوا د هغه د حاصل د زیاتیدو سبب کیږي او له بلې خوا د ناروغیو او هرزه بوټو خطر لږوي. هر څومره چې د نباتاتو د کښت تر منځ د تناوب وخت اوږد وي په هماغه اندازه ګټور دی. کرنیز تناوب باید د مختلفو نباتي کورنیو د نباتاتو د نوبتي کرلو له لارې عملي شي.

و. په کروندو کې د پلاستیک استعمال: په کروندو کې پلاستیک معمولاً د ملچ، پلاستیکي تونلونو، ګلخانو او د اوبو لګولو د څاڅکو او باراني طریقو لپاره کارول کیږي. په کروندو کې د پلاستیک استعمال زیات لګښت لري او له همدې کبله یو اځې د لوړ ارزښته محصولاتو لپاره کار ترې اخیستل کیږي. د حاصلاتو د راټولولو څخه وروسته د پلاستیک سمبالول او د کثافاتو مخصوص ځای ته انتقالول ډیر اړین کار دی. که چیرې زاړه شوي پلاستیکونه په مناسب ډول سمبال نه شي د کروندي او محصولاتو د فزیکي ککړتیا لامل کیږي.

ز. د کیمیاوي موادو استعمال: په کروندو کې کیمیاوي مواد معمولاً د نباتي ناروغیو او آفتونو د کنترول او د نبات د ودې د تنظیم کولو په خاطر استعمالیږي. آفتونه، ناروغی او هرزه بوټي د کیمیاوي موادو په لږه اندازه سره باید کنترول شي.

أ. کیمیاوي مواد باید په مناسب ډول سره استعمال شي تر څو په ګټورو ژوندیو موجوداتو لږ اغیزه وکړي (Anon, 2002). د کیمیاوي موادو د استعمال په صورت کې باید لاندیني ټکي په پام کې ونیول شي:

۱) آفت وژونکي درمل باید د لیبل د لارښوونو سره سم استعمال شي

۲) د درملو د محلول د جوړولو پر مهال باید ټول اړین تجهیزات او د مواد موجود وي

۳) د درملو د شیندلو د اړونده تجهیزاتو د ساتنې، اصلاح کولو او څارنې لپاره باید لیکلي کړنلارې موجودي وي

٤) د درملو د شیندلو د اړونده تجهیزاتو د څارنې ټول اسناد باید په لیکلي ډول وساتل شي

٥) د درملو د بې ځایه استعمال څخه د مخنیوي لپاره باید یو لیکلی هر اړخیز پلان موجود وي

٦) د ټولو آفت وژونکو درملو د استعمال لیکلي اسناد باید وساتل شي. په دې اسنادو کې د درملو د استعمال نیټه، کیمیاوي او تجارتي نوم، دراجستر شمیره، د استعمال اندازه، د هوا حالات، د حاصلاتو مرحله، د هدف وړ آفت، د هدف لاندې ساحه او د تطبیقوونکی نوم او د تصدیق نامې شمیره باید ولیکل شي.

۷) د آفتو وژونکو درملو څخه یو اځې هغه وخت باید کار واخیستل شي چې د آفتو نو کچه لوړه شي او د اقتصادي زیانونو سبب وګرځي

۸) هغه اوبه چې د درملو په جوړولو کې کار ورڅخه اخیستل کیږي باید د څښلو وړ وي

۹) د درملو تطبیق کوونکی شخص باید په دې برخه کې ماهر وي او له باوري منبع څخه باید تصدیق نامه ولري

۱۰) د درملو تطبیق کوونکی شخص باید حفاظتي جامې واغوندي

۱۱) د آفت وژونکو درملو د ساتن ځایونو دروازې باید همیشه تړلې وي او له نومړو ځایونو څخه باید یو اځې د همدې درملو د ساتلو لپاره کار واخیستل شي

۱۲) د آفت وژونکو درملو ساتن ځایونه باید په داسې ډول ډیزاین شوي وي چې د کوټې لاندینۍ برخه یا فرشونه یې د نفوذ وړتیا و نه لري. نومړې فرش باید ګردچاپیره څنډې ولري چې د درملو او یا نورو موادو د توئیدلو په صورت کې بل لوري ته ددې موادو د جریان څخه مخنیوی وکړي

۱۳) کارګرانو ته تر هغه وخته پورې کروندې ته ننوتلو اجازه باید ورنه کړل شي تر څو چې د ننوتلو لپاره ټاکل شوي موده پوره شوي نه وي

۱٤) د آفت وژونکو درملو د استعمال څخه وروسته په لیبل کې د ذکر شوو ورځو تر پوره کیدلو مخکې باید حاصلات راټول نه شي

۱٥) هغه لوښي چې د آفت وژونکو درملو د استعمال لپاره ورڅخه کار اخیستل شوی وي باید په مناسب ځای کې ځای پرځای شي

ل. کروندو ته د څارویو او وسایطو د ننوتلو په برخه کې محدودیتونه: ټول بزګران باید د میکروبونو د خپریدلو د کچې د راټیټولو لپاره لندو کروندو ته د ننوتلو څخه ډډه وکړي. هغه وسایط چې د حیواني سرې د انتقال، قلبې او نورو کرنیزو چارو په برخه کې کار ترې اخیستل کیږي باید کروندو ته د ننه وتلو څخه مخکې په مناسب ډول سره پاک شي. ټول کورني او وحشي- څاروي د چرګانو په ګډون باید کروندو ته د ننه وتلو څخه مخنیوی وشي، په ځانګړي ډول کله چې د حاصلاتو د راټولولو وخت نږدې وي.

م. د کارګرانو د کار ځایونه او د هغوئ حفظ الصحه: په کرونده کې د کارګرانو لپاره پاک، خوندي او د روغتیایي مقرراتو سره سم تشنابونه باید برابر شي. بزګرانو ته باید د خوراکي توکو د خوندیتوب او شخصي حفظ الصحي ترمنځ په اړیکو د پوهیدلو لپاره مناسب روزنیز پروګرامونه برابر شي. کارګرانو ته باید د ټولو وسایلو او ماشین آلاتو څخه په اغیزمنه توګه د ګټې اخیستلو په برخه کې لارښوونه وشي. ټولو کارګرانو ته باید مناسبه اجوره ورکړل شي او د هغوی د ګټو د ځانته کولو څخه باید ډډه وشي.

II. د حاصلاتو د راټولولو مرحله

ټول وسایل او د حاصلاتو ټولولو لپاره اړین لوښي باید په دوامدار ډول تر لوړ فشار لاندې ومینځل شي. د حاصلاتو د راټولولو څخه مخکې باید ټول اړین وسایل په مناسب ډول سره پاک شي او د نه استعمال په صورت کې باید په مناسب ځای کې وساتل شي تر څو د الوتونکو مرغانو او نورو څارویو په واسطه له ککړیدو څخه وژغورل شي.

ټول کارګران باید شخصي حفظ الصحه مراعات کړي. ناروغه او هغه کارګران چې لاسونه یې د میکروبونو په واسطه ککړ وي محصول ته د ناروغیو د خپریدلو لامل کیږي، په همدې سبب باید د کار کولو اجازه ورنه کړل شي. د کارګرانو لپاره باید مناسب روزنیز پروګرامونه جوړ شي او هغوی باید پاکو تشنابونو ته لاس رسی ولري تر څو د اړتیا په صورت کې خپل ځان او لاسونه پاک ومینځي.

III. د محصولاتو د راټولولو څخه وروسته سمبالول

أ. د کارګرانو حفظ الصــــحه :ککړ لاسونه میوو او سبو ته د میکروبونو د انتقال سبب کیږي په همدې خاطر لاسونه باید د مایع صابون په واسـطه و مینځل شي او له مینځلو وروسته باید د یو ځل مصرـف کاغذي لاسپاک په واســطه وچ شي او یا باید دلاســـونو د تعقیم کوونکي مایع څخه کار واخیستل شي. کارګرانو ته باید د تشــنابونو څخه د ګټې اخیســتلو او په مناسـبه توګه دلاســونو د مینځلو په هکله روزنیز پروګرامونه جوړ شي. د محصولاتو د بسـته بندۍ کارګران باید د یو ځل مصرـف دستکشـونو څخه ګټې اخیستلو ته وهڅول شي. ناروغ کارګران باید په داسې دندو و نه ګمارل شي چې د خوراکي توکو سره تماس ولري. د کار په ساحه کې د ښـــــلو پاکې اوبه باید موجودې وي.

ب. د اوبو کیفیت :ټولې هغه اوبه چې کارګران یې دلاسونو او محصــول د مینځلو لپاره استفاده کوي باید د ښـــلو وړ وي او باید وخت په وخت د هغې کیفیت و آزمویل شي. د تازه محصـــــــــولاتو د مینځلو لپاره په استعمالیدونکو اوبو کې د تجویزسره سـم کلورین هم اسـتفاده کیدای شي (Ranganna, 2008) .

ج.د بسـته بندۍ د خوني پاکوالی :ټول هغه وسایل، وسایط او سطحې چې د محصــــولاتوسره په تماس کې وي باید د هرې ورځې په پای کې پاک او تعقیم شي. هیڅ ډول څاروي او مرغۍ باید د بســته بندۍ خونې ته د ننه نه شي. د موږکانو او نورو ژوونکو حیواناتو د کنټرول لپاره باید د بسـته بندۍ د خوني د ننه په هر ۳-۴ متره او د خونې څخه د باندې په هر ۴-۵ متره کې یو تلک د دیوالونو تر څنګ ځای په ځای شي .

د.لومړنۍ سړونه او سړې زیرمې: میوې او سابه باید د ټولولو څخه وروسته په چټکۍ سره د میکروبونو د ودې د لږولو او د محصــول د کیفیت د ساتلو په خاطر ساړه شي. د هغو اوبو تودوخه چې د محصــــولاتو د سړولو لپاره کارول کیږي باید د محصـول د تودوخې څخه د ۱۰ فارنهایت څخه ډیره لږ نه وي. په سړو زیرمو کې باید په دومره محصـــول ځای پرځای شي چې د ساړه ساتلو ظرفیت یې ولري (Kumar et.al., 2009) .

ه . انتقال :د محصـول د بارولو څخه مخکې باید ډاډ ترلاسه شي چې نقلیه وسایط په مناسب ډول پاک شـوي دي. بزګران باید ډاډ ترلاسـه کړي چې تازه میوې او سابه په داسې لاریو کې چې د څارویو او نورو مضرو موادو د انتقال لپاره کارول کیږي نه انتقالیږي.

که چیرې له نوموړو لاریو څخه کار اخیســتل کیږي نو باید د محصــول د انتقال څخه مخکې پاکې و مینځل شي.

هره لارۍ چې بسته شوي محصولات لیږدوي باید د اصولوسره سم ثبت او اسناد یې وساتل شي. بســته بندي شوي تازه میوې او سابه باید په ساړه سیستم لرونکې موټر کې انتقال شي تر څو محصـول په مناسب حرارت کې انتقال شي او په دې جـریان کـې د میکـروبونو د ودې څخه مخنیوی وشي (Carolyn, 2001) .

IV.د کروندې حیاتي امنیت

د کروندې او د بسـته بندۍ د خونو دروازې باید د کارکولو څخه وروسته و تړل شي. د نوموړو دروازو د پرانیســـــــتلو صلاحیت باید یوائې د هغه کارکوونکوسره وي چې د همدې دندې لپاره ټاکل شــوي دي. د کروندې څخه لیدنه کوونکو کسانو ته باید ځانګړي محدودیتونه موجود وي او ټول لیدنه کوونکي کســان باید ثبت او راجســتر شي. د کرنیزو توکو د تولید، سمبالولو او پروسـس لپاره باید د حیاتي امنیت د معیارونوسره سـم د باور وړ کسـان په دندو وګمارل شي. ټولو کارکوونکو ته باید داسې روزنه ورکړل شي چې په کرونده یا د بســته بندۍ په خونه او یا ددې په شا او خوا کې د مشکوکو اشخاصو، نقلیه وسایطو، نا مناسبه تولیداتو او مشکوکو کارګرانو په هکله خپل مشر ته خبر ورکړي.

V. د بحران سمبالول

د کروندې ښنتن او په کرونده کې ټول کارکوونکي باید د بحران د کنټرول په برخه کې روزل شـــوي وي. د بحران د کنټرول لپاره باید یو هر اړخیز پلان شــــتون ولري. په دې پلان کې باید کارکوونکي په ځانګړو ګروپونو وویشـــل شي، د بیلګې په ډول هغه ګروپ چې رسنیو ته خبر ورکړي او د هغوی پوښتنو ته ځوابونه ووائي. بل ګروپ باید هغه کســـــان وي چې د بحران د کنټرول په برخه کې روزل شـوي وي او د بحران په صـورت کې په بیلابیلو برخو کې خپلې دندې سرته ورسوي. د بحران د کنټرول په پلان کې باید د ځینو فعالیتونو د پــــرمخ بیولو او د ځینو نورو فعالیتونو د لنډ مهاله درولو طرحه شامله وي. په دې پلان کې د ټولو هغه ادارو او اشخاصـو چې د بحران په وخت کې مرسته کوي لکه د حقوقي سـلاکارانو، کرنیزو دولتي او غیر دولتي ادارو، صحي کارکونکو او پلورونکو د اړیکو شـمیرې او نور اړین معلومات باید موجود وي. د بحــران د کنټرول د پلان د اغیـــزمنتیا د معلومولو لپاره باید یو آزمایښتي بحران په لاره واچول شي.

VI شخصي عادتونه

د سګرټو څکول، خوړل، ښبـل، ژاولي ژوول، د تنباکو استعمالول او داسې نور کارونه باید د کروندې څخه د باندې ترسره شي. که چیرې د شخصيـــ عادتونه له امله ککړتیا د جدي خطر لامل کیږي نو باید ددې خطر د لږولو لپاره ځانګړي پالیسي جوړه او عملي شي
(Rangarajan et.al., 2003) .

VII. د لړۍ را سپړل

د محصول د لړۍ را سپړل مشتریانو ته دازمینه مساعدوي چې د محصـول په هکله یوه مرحله مخکې او یوه مرحله وروســــــــته معلومات راټول او د غذایي موادو د شکایتونو په هکله سپیناوی وکړي (Anon, 2002):.

VIII. چاپیریال د کرکیلي چارې باید په چاپیریال باندې بنـــــــې اغیزې وکړي او د نباتاتو او حیواناتو ژوند ته ګټه ورسوي (Anon, 2002) .

د شکایتونو فورم

د مشـــتریانو د شکایتونو لپاره باید یو فورم شتون ولري تر څو شکایتونه په منظم ډول یاداشت او د حل لپاره یې عملي پلان جوړ شي (**Anon, 2002**) .

IX. داخلي تفتیش

بزګران یا باغداران باید لږ تر لږه په کال کې یو ځل د کرکیلي د ننه د بنـــو کرنیزو چارو د تطبیق په برخه کې داخلي تفتیش ترسره کړي. د تفتیش په پایله کې چې کومې ستونزې په ګوته کیږي باید د حل لپاره یې عملي پلان جوړ شي (**Anon, 2002**).

X. د سندونو یاد داشت ساتل

په میوو کې د بیلابیلو رنګونو په منځته راتللو کې برســــیره پر پګمنتونو ، ځینې نباتي هارمونونه اوانزایمونه هم پوره ونډه اخلي. د کلوروفیلاز (Chlorophylase) انـزایم د کلوروفیل د له منځه تلو په میخا نیکیت کې د کتلست په حیث کار کوي او د ایتلین هارمون د نوموړي انزایم فعا لیت زیا توي (۳).

پګمنتونه (نباتي رنګونه)

نباتي پګمنتونه هغه رنګه مواد دي چې د میوو دبيلابيلو رنګونو د جوړښت اومنځته راتلو سبب کيږي. نبا تي پګمنتونه بيلابيل کيمياوي سا ختمانونه لري چې مهم ډولونه يې له انتوســــيانين ، کلوروفيل او کروتينويد څخه عبارت دی . نوموړي پګمنتونه د کرومو پلاســت اوکلورو پلاســـت په پلاســـتيدونو کې وجود لري ، چې د نباتاتو د ودې په بيلابيلو مرحلو کې رابرسيره کيږي (۷).

دميوو تـــرټولومهم پګمنت د کلوروفيل په نوم سره يادیـــږی اود نباتاتو د ټولوبرخو شـــين رنګ دکلوروفيل په واســـطه منځ ته راځي. کروتينويد په ميووکې په زياته توګه ژيړ رنګونه اوپه لړه اندازه ، ســور اونارنجي رنګونه جوړوي. همدارنګه په ميووکې په زياته اندازه تور،ســـــور ،نارنجي ،ابي اوارغواني رنګونه د انتوسيانين دپګمنت په واسطه توليديږی(۵).

۱- کلوروفيل

کلوروفيل د نباتاتو يومهم پګمنت دي چې د نباتاتو دضـــــيايي ترکيب په عمليه کې پوره ونډه اخلي او د نباتا تو د لومړني (زرغون رنګ) جوړونکی واحد ګڼل کيږي. په نباتي حجراتو کې بيلابيل پلاستيدونه وجود لري، چې پدې ځا ی کې د کلوروپلاست څخه يادونه کيږي (۴).

په نباتی کلوروپلاســت کې کلورفيل اونورپګمنتونه د Thylakoid په برخه يا د ګرانم (Granum) په طبقاتو کې چې مخصوصې نباتي غشاوې دي، په ځانګړي ډول سره موقعيت لري او د لمريزسيستمونوپه نوم سره يا ديږی (۸). هر لمريزسيســـتم مجموعا د ۴۰۰-۲۵۰ما ليکول پګمنتونه لري چې داټول پګمنتونه دفوتون(Photon) دجذب قدرت لري (۶).

د کلوروفيل د ما ليکولونو څخه يوماليکول د لمريزې انـرژي څخه په کيميا وي تعاملاتو کې استفا ده کوي چې د کلوروفيل نوموړي ما ليکول د لمريز تعاملاتو دمرکز په نوم يا ديږي. اود کلوروفيل نور ماليکولونه د اخيستونکو پګمنتونو (Antenna pigment)په نوم يادیـږي، چې په مجموعـي ډول سره يوجا ل ته ورته سيستم لري اود لمروړانګې را ټولوي (۴).

لمريزه انرژي د نوموړو پګمنتونو د ماليکولونو د جالۍ ډوله جوړښـت په واســـطه جذبيږي اود نوموړو پګمنتونو، نورو ما ليکولونو ته انتقاليږي. بالاخره د تعا ملاتو مرکز ته رســـــيږی . کله چې انرژی دکلوروفيل د ما ليکولونو په واســـطه سره جذ ب شي، نوموړې انرژي د هغه د الکترون په واســطه د انرژی لوړې برخې ته رسـيږي ، چې له همدې مرحلې څخه د غذايي موادو اود بيلابيلو رنګونو د جوړښـــــت عمليه شروع کيږي. هغه کلوروفيل چـې لمريـزه انـرژي جذبوي د P700په نوم يا ديـږی چـېP د پګمنت څخه نما ينده ګي کوي او ۷۰۰ د لمريز موج د جذب اعظمی حد په نانومتر(Nanometer) (سره ښيي(۷).

د بيلابيلو رنګونو منځته راتګ د نوموړي حد په بيلابـيلو اندازو پورې اړه لري .کله چې ميوه پخيږي د کلوروپلاست پرمخ د کروموپلاست پلاستيد را برسيره کيږي او ميوې د شنه رنګ پر ځاى ډول ډول رنګه رنګونه رامنځته کوي (۳).

کلوروفيل د لمر په مستقيم تماس کې شين او د لمر په غيرمســتقيم تماس کې ســـــور رنګ لري. چې نوموړي د کلوروفيل يوفزيکي خا صـــــيت دی (http://www.hort.purdue.edu/newcrop/searchEngine.html.).

د کلوروپلاست پلاستيد د کلوروفيل درلودونکی دی چې بيلابيل پګمنتونه لري چې له هغوی څخه کلوروفيل -a تورابي رنګ، کلوروفيل -bشين تور رنګ لري. د کلوروفيل -b په واسطه د لمر جذب شوې وړانګې پرله پسې کلوروفيل -a ته انتقاليږي چې نوموړی وړانګې کيمياوي انرژي ته بدلون مومي او د ضيائی ترکيب عمليه شروع کوي. کلوروفيل -c اوکلوروفيل -d په ځينو الجيانو(Algae) کې د کلورو فيل -b دنده سرته رســــــوي .

همدارنګه کـــروتين ((Carotene اوزنتوفيل(Xanthophyll) چـــې نارنجي او ژيړ رنګونه لري، ځينې وخت د رنګ دتشـــکيل کيدو په وخت کې د کلورو فيل -b دنده سرته رسوي (۲).

کلوروفيل په اســـــا نی سره د پاڼو څخه د ايتايل الکول اوکلوروفارم په واسطه بيل کيږي اوپاڼه شين رنګ له لاسه ورکوي (۱) .

۲- کروتينويد

ځينې ميوې چې دپخوالی مرحلې ته ورســـــيږی د کلوروفيل پګمنت له لاســه ورکوي، د هغه پر ځای د کروتينويد پګمنت منځته راځی. کروتينويد بيلابيل ډولونه لري چې ټول يی په ايزوميري (isomeric) ډول سره وجود لري، چې نوموړي پګمنټونه د حجرو په رنګه پلاستيد (کروموپلاست) کې ځای لري (۷).

کروتينويد په ميوه کـې د ژيـړ رنګ اوهمدارنګه په ځينو ميوو کـې دسره اونارنجي رنګ د منځ ته راتګ سبب کيږی. مثلا د زردالو دميوې ژيړرنګ په زياته اندازه سره د کـــــروتـــــــين (Carotene) اوزنتوفيل (Xanthophyll)په پګمنت پورې اړه لــــري ،چـــې نوموړي پګمنتونه دکروتينويد (Carotenoid) دمهموډولونوڅخه دي . همدارنګه په رومـي باد نجانو کې ســوررنګ د لايکوپين (Lycopene) په واسطه سره توليد يږی چې دا هم دکـروتينويد ((Carotenoid يو ډول دی. د پخو الوګانو اوالوبخارا د ميوې ژيړرنګ اودستروسـو دميوونارنجي رنګ د کروتينو اوزنتوفيلو په پګمنتونو پورې اړه لري (۷)

په ۳- انځور کې د رومی بانجانو ژيړ اوسره رنګونه چې د کـروتينويد د پګمنت په واسطه منځته راغلي ، ليدلای شی (۵)..



۳-انځور: درومي بانجان سور رنګ

۳- انتو سیا نین

د انتوسیانین پګمنتونه چه د کلورفیل دلاسه ورکولو په واسطه رامنځته کیږي، معمولا د وړوکو حجراتو څخه د میوې د پخوالي په وروستی مرحله کې په خالیګاؤ (Vacuoles) کې پیدا کیږي ، د انتوسیانین د پګمنت په واسطه په میوو کې معمولا سره رنګونه تولیدیږي. د انتوسیانین پګمنت د کروموجن دکیمیاوي مرکب څخه په لاس راځي. دکروموجن شتوالی په ونوکې د کاربوهاید ریتو اوقندي موادو په اندازې پورې اړه لري. همدارنګه د لمر دوړانګو څخه یوازې د التراوایالیټ(Ultraviolet) وړانګې د انتوسیا نین په جوړیدو کې رول لوبوي (۵).

نباتات کولای شي چې د انتوسیانین مالیکولونه میتابولیز کړي یو ښه مثال یې Chicory دی. په هر سهار کې نوي ابي ګلان غوړوي ، د انتوسیانین پګمنت په وختی ماسپښین کی له منځه ځی او سپینی پاڼې پاتې کیږی. دیوشمیر کیمیا پوهانو په واسطه دانتوسیانین بیلابیل ډولونه پیژندل شوي دي چې مهم ئی دسیانیدین) (Cyanidin څخه عبارت دي. ځینې نورډولونه ئی ، دمثال په توګه منې اوناک په خپل ځان کې د Glactocide -3 مرکب جوړوي او خواږه ګیلاس ، شفتا لو او الو د 3-rutinoside پګمنت په خپل ځان کې ښکاره کوي (۸).

ټولې هغه میوې چې انتوسیا نین تولیدوي د هغه مختلف ډولونه پکښې لیدل کیږی . همدارنګه کیمیا پوهانو د کیمو تکزانومي (Chemotaxonomy) له مخې وښودله چې زیات کیمیاوي مواد موجود دي چې وروسته دانتوسیانین څخه درنګونو په منځ ته راتګ کې پوره رول لوبوي ، چې دکوپګمنت Co-pigments) په حیث باندی پیژندل شوي دي. په نوموړو کیمیاوي موادوکې فلزي ایونونه لکه (مګنیزیم ، اوسپنه او المونیم) همدارنګه Galloyl Esters ، د فلاون (Flavone) بیرنګه کیمیاوي مرکبات او Hydroxycinnamoyl esters شامل دي (۷).

د انتوسیانین مرکب په میوو کې د سوررنګ اوپه لړه اندازه سره د نوررنګونو د رامنځته کیدو سبب کیږي. د منو او زردالو سوررنګ اوهغه الو، چې میوې یې ګلابي رنګ لري د انتوسیانین د پګمنت د موجودیت له امله دی . اوپرته د انتوسیانین دشتون څخه میوې نوررنګونه تولیدوي چې هغه په اړوند ه پګمنتونو پورې اړه لري (۵) .

په۵-۴ انځورونوکې دزردالو او منو په میوو کې د انتو سیانین په واسطه منځ ته راغلي سره رنګونه لیدل کیږي http://www.hort.purdue.edu/newcrop/searchEngine.html).



۴- انځور: دزردالو دمیوې سور رنګ انتوسیانین دمنې دمیوې سور رنګ:۵-انځور

محیطي شرایط

د ټولو هغو فکتورونو فعالیت چې د میوو درنګ په منځ ته راتلو کې رول لوبوي، په یو لړ محیطي شرایطو پورې اړه لري ،چې په لاندې ډول بیان دي(۲) .

۱-رڼا

د لمر رڼا د میوې پروده، غټوالي اود پخیدلو په ټولو مرحلو باندې تاثیر لري . دلمر وړانګې دمیوو د ضیا یی ترکیب په عملیه کې مهم رول لوبوي چې ددې عملیی په لړ کې کاربوهایدریت جوړیږي اونبات خپلې ودې ته دوام ورکوي ، د لمررڼا د میوو درنګ په انکشاف کې مهم رول لوبوي. میوې د ودې په لومړۍ مرحله کې د پاڼو په څیر شین رنګ لري ، د وخت په تیریدو اود پخوالی د مرحلې په رارسیدوسره رنګ ته تغیر ورکوي .هغه وخت چې میوې په سیوری کې وي یا په سیوري کې وده وکړي ، شین رنګ یی له منځه ځي اوسپین رنګ ځا نته خپلوي (۸).

ځيني ځيړنې داسې څرګندوي ، که چيرې منې په سلوکې د۷۰ څخه په
زياته اندازه د لمر رڼا جذب کړي ، بشپړ سوررنګ منځته راوړي او که په
سلوکې د ۴۰ څخه لږ رڼا ورته ورسيږي سوررنګ توليدولای نه شي.
ټول هغه پګمنتونه چې په ميووکې ډول ډول رنګونه رامنځته کوي
دلمردوړانګو په شتوالي کې فعال کيږي (۱). د ميوه لرونکوونو د باغ
موقعيت د ميوو د رنګ په جوړښت کې ښه ونډه اخلي. هغه باغ چې هغه
ته په کافي اندازه د لمر وړانګې وررسيږي ميوې يې د ښه رنګ
درلودونکي وي. که د ميوه لرونکوونو دباغ قطارونه دشما ل-جنوب په لور
کښينول شي، په سلوکې ۱۰ برخې د لمر وړانګې زياتې جذب اوميوه يې
ښه رنګ غوره کوي. د لمر د الټراوياليټ وړانګې ((Ultraviolet Raysد
لوګي ،ګرد او غبار اود اوبود ما ليکولونو په واسطه ډير ژر جذ بيږی اونه
پريږدي چې دوسنو يا ميووسره په تماس کې شي. نوله دې کبله د منو
هغه باغونه چې په لوړو ځايونواوچه هوا لرونکې ځای کې کرل شوي
وي د ميوو سوررنګ يې زيا ت وي(۸) .

همدارنګه د زردالو او شفتالو په ميوو کې سوررنګ هغه وخت ښه
انکشاف کوي چې نومورې ميوې دلمر د وړانګوسره مخا مخ شوي وي. که
چيرې د زردالو او شفتالو ميوې او يا دهغوی ځينې برخې په سيوري کې
وي په هغوی کښې د انتوسيا نين سور پګمنت يارنګ تشکيل کيد لی
نشي (۵).

په سيوری کښې لويې شوی ميوې زيات کلوروفيل لري چې د انتوسيا نين
پګمنت پټوي ، اوله بلې خوا نومورې کلوروفيل د لمر (Blue Violet)
وړانګې هم نه پريږدي چې ورڅخه تيرې شي .نومورې وړانګې د انتوسيا
نين د پګمنت د توليد يد و لپاره اړينې ګڼل کيږي .هغه ميوې چې د
پخوالي په مرحله کښې سوررنګ توليدوي د حاصل درا ټولولو څخه
درې اونۍ مخکې پوره اندازې د لمر وړانګو ته اړتيا لري (۱) .

منې ، شفتالو اونور سوررنګه ميوې په ونه کې مخکې له حاصل
راټولولو څخه نږدې درې اونۍ پوره دلمر وړانګو ته اړتيا لري.
که چيرې ونې په ډيره زيا ته شميره سره پا ڼې اوڅا نګې ولري با يد
په همدې مرحله کې د اوړي ښا خه بري سرته ورسيږي ، ترڅو ميوو ته په
کافي اندازه د لمرورانګې ورسيږي. نومورې ميوې د پوره سوررنګ د
توليد لپاره درې اونۍ مخکې له حا صل راټولولو څخه ۲۳ سلنه لمر ته اړه
لري. په منو کې بايد د پاڼو او د هغه دميوو ترمنځ انډول وساتل
شي. د Red delicious منو دونې په هره څانګه کې د هرې يوې
ميوې لپار ه بايد ۷۵ پاڼې پرېښودل شي(۷).

۲-تودوخه

د تودوخې درجه هم په خپل وارسره د ميوو درنګ په منځته راتګ کې
ستر رول لوبوي. يو پوه (Mclntosh) يادونه کړی ده چې منې برسيره
پردې چې د لمر وړانګو ته اړتيا لري ، سړه هوا نظر تودې هوا ته درنګ په
ټاکلو يا د ښه رنګ په منځته راوړلو کې ونډه اخلي. که چيرې د شپې له خوا
د باغ هوا سړه وي ، نود تنفس عمليه لږيږي او په ونو کښې د کا
ربوهايدريتو زيرمه زيا تيږي ، لدې امله د باغ د منو او نورو
ميوو سوررنګ زيا تيږي (۷).

دبيلګې په تو ګه تشريح کولای شو چې د باميانو د منو سوررنګ نظر
دميدان وردګو او لوګر ولايت د منو او نورو ميوو سوررنګ ته زيات دی.
همدارنګه دزردالو ونې چې دميدان وردګو په ولايت کې روزل کيږی
دهغه ميوې د تلې ترمياشتې پورې په ونه کې پاته کيږی، او ډيرښايسته
رنګ ځانته خپلوي، د کاربو هايدريتو له خوا ډيرې غنی وي، چې دا د
مناسبې سړې هوا درسيدلو له امله دي. نومورې سړه هوا دشپې له خوا
ضروري ګڼل کيږي(۱).

Mclntosh د خپلې علمي څړنې څخه داسې پايله واخيسته ، که د
شپې له خوا تودوخه د سانتي ګيراد ۲۱ درجو څخه لوړه شي ، د انتو
سيانين پګمنت د منو په باندنۍ ښه کې نه رامنځته کيږ ي.Red Chief
منې هغه وخت په پوره ډول سوررنګ منځ ته راوړي، چې دشپې له خوا
دتودوخې درجه د سانتي ګيراد ۱۱ درجې وي (-http://www
saps.plantsci.cam.ac.UK/worksheets /ssheets
/ssheet10htm).

همد ارنګه کله چې د زردا لو ميوې د پخوا لي مرحلې ته نژدې شي نو
د هغوی د ښه رنګ او مزې لپاره با يد د محيط تو د و خه د سا نتيګرا د
۲۵ درجو په شا او خوا کې وي(۲).

څرنګه چې افغا نستا ن وچ او تود اقليم لري، نو د ميو ې د پخوالی په
مرحله کې د ورځې له خوا هوا توده وي اوښه لمر ميوو ته رسيږي، د ونې پا
ڼې په زيا ته اندازه سره کا ربو ها يدريت جوړوي او د شپې له خوا چې هوا
سړه وي، نومورې توليد شوي کا ربوهايد ريت په ميوه که زيرمه کيږي
اوميوې په زړه پورې سوررنګ توليد وي. په ځينو ځايونو کې چې د
ورځې او شپې له خوا هواتوده وي د ورځې په لړ کې توليد شوي کا ربوها
يدريت د شپې په جريا ن کې د زيات تنفس له امله له منځه ځي او په زړه
پورې سره يا نوررنګه رنګونه توليد ولاي نه شي اوميوه يې ښه خوند نه
لري (۵).

۳- کيمياوي سره

په مناسبه اندازه ميوه لرونکو ونو ته کيمياوي سره ورکول دهغه د ميوو په
حاصل، کيفيت اودهغه د ښکلي رنګ په منځته راوړ لو کښې پوره ونډه
اخلي .

پوتاشيم لرونکې سره د نورو سرو په پر تله دميوې درنګ په انکشاف کې
ښه رول لوبوي . پوتاشيم لرونکې سره د زياتې نايتروجن لرونکې سرې
ناوړه اغيزې لږوي او دلږ نايتروجن لرونکي سرې ښه اغيزې زياتوي
.(http://post harvest.tfrec.wsu.edu/REP2007A.pdf)

که چیرې په زیاته کچه د نایتروجن سره ونو ته ورکـړل شي میوې یې سـپین رنګ منځته راوړي اود انتوسـیا نین د جوړېدو څخه مخنیوی کوي .همدارنګه نومونړې نا یتروجني کیمیاوي سره په سـوداګریز ډول د خاورو جوړښت د میوو د روزلو لپاره خرابوي ، نوله دې امله ورته یولوی زیا ن راړونکـی عامل ویل کیـږي . دمیوو رنګ د ونو په تغذیوي حا لت پورې تړلی وي ، له دې کبله ونو ته دکیمیاوي سرې ورکول ، ښـــاخه برې کول ، للون اودمیوو رنګي کول ټول هغه عوامل دي چې د میوې درنګ په منځ ته راتګ کښې ډیر مهم رول لري (۳).

څرنګه چې پاڼې د کاربوهاید ریتونو په جوړېدو کښې مهم رول لري ،نو تر یو اندازې پورې چې هر څومره په ونو کښـــې پا ڼې زیاتې شي ، بې له دې چې په مېو سیوری وکړي په همغه اندازه مڼې سوررنګ ځانته غوره کوي . د نایتروجن دکیمیاوي سرې په زیا توالي سره د میوو د پټـکــــــي څخه کلورو فیـــــل او همدارنګه نوررنګه پګمنتونه له منځه ځي اوســــپین رنګ ځا نته نیسي، برسیره پردې په میوه دارو ونو کې اوبه لرونکي نازکې نودې یا (Water sprouts) منځتـه راځي اودونې بد نې وده زیاتیـږي چې د میوې په کیفیت ،ښکلي رنګ باندې ناوړې اغیزې کـوي اود ونې په شـــا اوخوا باندې سـیوری جوړوي (۵) د خاورې pH هم په خپل وارسره دمیوو درنګ په انکشـــاف کې ښه رول لري. Red delicious مڼې په هغه خاوره کې چې pH یې ۴.۱ څخه تر ۶.۹ پورې وي ، ښه سور رنګ تولیدوي (۲).

۴-باندني فشار

د یادونې وړده چې میوه لرونکې ونې باید له هرډول باندني فشـــــار څخه وژغورل شي ، ترڅو هغوی د ضیایي ترکیب په عملیه کښـــې لړوالی راته شي اود میوو درنګونو په خاص ډول دسور رنګ منځته راتګ و نه دروي

.

میوه داري ونې باید له وچکا لۍ څخه وســــــا تل شي ، که چیرې میوه لرونکـې ونـې له وچکالـۍ سره مخ شي ، نوپه هغوی باندې به ډول ، ډول حشـــات اوناروغۍ حمله وکړي اودونو د پا ڼو اوخا نګو په فزیا لوژیکي دند و کښې به ډیرې ستونزې منځته راوړي ، د خوراکي موادو جوړول اود میوې درنګ منځته راوړل به ود ریــــــږي. همدارنګه د ځا نـــــګو پریکول هم دونــــوپه پورتنیو دندو کښـــې لړوالی راولي (۵).

د کیمیا وي موادو استعما ل

ځیني مصـــنوعي جوړشوي هارمونونه د میوو درنګ په منځته راتلو کې خورا ښـــــه اغیزې لري. د بیلګې په توګه ایتوفون(Chloroethyl- 2 (phosphonic- Acid نن ورځ د نړۍ په ځینو هیوادو کښــــــــې په سوداګریز ډول په مڼو باندې استعمالیږي، تر څو چې د مڼو سوررنګ زیا ت شي. د مڼو ونې یوزیا ت شمیر میوې د اوړي په اوږد و کښـــــې له لاسه ورکوي. لومړي د مڼو یو شمیر ګلان توئیږي، بیا شیږ اونۍ وروسـته له ګل کولو څخه اومې مڼـې دغبرګولي دلویدنـې په مرحله کـې چـې د June (drop)په نوم یا دیږي توئیږي اوپه پای کښـــې ۱۵یا ۲۰ورځې پخوا له پخیدو څخه، یو شمیر مڼــې توئیــــــږي. د مڼـــــو د اخري توئید و د مخنیـــــــوي لپاره ځینـــــې د ودې تنظیمونکـــې مواد لکه نفتا لین استیک اسـید او 2,4,5 Trichlorophenoxy Acetic Acidاسـتعما لیږي. دودې تنظیمونکي مواد برسیره پردې چې د اومو مڼو د توئید و مخه نیسي د مڼو سوررنګ هم زیا توي. همدارنګه که چیرې په یومیلیون کښـې ۸۰ برخـې ایتوفان- 2Chloroethyl Phosphonic Acid د میوې له پخوالي څخه درې نیمې اونۍ دمخه په ونو وپاشـــل شي، د میوو درنګ اوقندي موادو په تشکیلیدو کښې دوه اونۍ او د میوې په نرموالي کښـې یوه اونۍ چټکتیا راولي.

که چیرې په یو میلیون کـې ۵۰ بـرخــې جبرلین د میوې له پخوالي څخه درې نیمې اونۍ دمخه په ونوو وپاشل شي ، د میوو په نرموالي کښـــې یوه اونۍ او دمیوې درنګ او قندي موادو په تشکیل کیدو کښـې له یوې څخه تر دوو ورځو پورې ځنډ راځي (۱).

دالواوالوبخارا ځینې میوې چه په تازه ډول خوړل کیږي اویا ساتل کیږي ، د ساتلوپه وخت کښـې د هغوی منځنۍ برخې نصـواري رنګ غوره کوي. چې دا ډول ناروغې میوې دخوړلو وړ نه دي خو د جبرلین اســـــتعما ل دا پورتنۍ نا روغۍ له منځه وړلی شي او نومونړې میوې د خوړلو وړ کید لای شي .

ددې لپاره چې دالواویا الوبخارا میوې ژر پخې شي اوښــــه رنګ ولري اودسا تلو په وخت کښې ئې منځنۍ برخې خرابې نشــي ، باید ایتوفان په یومیلون کښــې ۸۰ برخې اوجبر لین په یو میلون کښــې ۵۰ برخې په ګډه سره د میوې له پخوالي څخه درې نیمې اونۍ د مخه په ونوو پا شـــل شي (۷).

درنګ اندازه کونه

په میوو کـــې درنګ د اندازه کولو لپاره له بیلابیلو طـــــریقو څخه کار اخیســــــــــــتلي شو . د بیلګې په توګه دځینې برقي وسایلولکه کالریمتر) (Colorimeter،سپیکترومتر(Spectrometer) په واسـطه دمیوې درنګ اندازه ټاکلي شو. دمیوو درنګ د اندازه کولو لپاره اسـانه او غوره لاره ، داړونده میوو څخه د چارت جوړول دي. دجوړ شـوي چارت له مخې کیدلای شي ، چې دمیوو ودې د بیلابیلو مرحلو رنګ په دقیق ډول وټــــــــــــــــــــــاکـــــــــــــــــــــــل شي (-http://www saps.plantsci.cam.ac.UK/worksheets /ssheets /ssheet10htm.).

په ٦- انځورکې دمیوو درنګ اندازه په اسانۍ سره ټاکل کیدلای شي.



٦-انځور:دمیوو درنګ اندازه کونه

پايلې

دميوې دپخيدو په وخت کې دهغه درنگ تغير ، نرموالی ، دخوقيمته قندونو بدلون يوقيمته قندونو ته ، د ميوې په جوړښت کې د مهمو بدلونونو څخه شميرل کيږي.

ميوې نظر دهغه ارثي خاصيتونو ته ډول ډول رنگونه توليدوي. دهر ډول رنگ رامنځته کيدل دوني په فزيالوژيکي ارثي خواصو ، نباتي پگمنتونو، سړه هوا، رڼا ،کيمياوي سرې او د ودې په تنظيمونکو موادو پورې اړه لري.

دبيلابيلو ميوو لپاره دبڼ د جوړيدو تر مخه دداسې ځای انتخاب شي چې دهغه محيطي شرايط دميوو دښې ودې لپاره مناسب وي ،ترڅو ميوه دارې ونې په بشپړه توگه خپلې فيزيالوژيکي دندې سرته ورسوي اوميوې دپخيدو په وخت کې ښکلي او په زړه پورې رنگونه توليد کړي.

دميوه لرونکو ونو باغ بايد په داسې ځای کې جوړ شي چې هلته دلمر وړانگې په کافي اندازه ونو ته ورسيږي ترڅو ونې وکولای شي د ضيائي ترکيب عمليه په ښه ډول سرته ورسوي. همدارنگه په ونو کې د پاڼو اوميوو ترمنځ انډول ساتل ، داړتيا په وخت کې د کيمياوي موادو استعمال ، داوړي ښاخ پريکونه ، د ميوو رڼگې کونه، د شپې له خوا د سړې هوا برابرول يا په ونو باندې د اوبو پاشل او په ټاکلي وخت د ونو څخه دميوو راټولول يو د هغه فکتورونو څخه دي چې دميوې درنگ په انکشاف کې پوره ونډه اخيستلای شي

اخځونه

۱- شيرزاد،بازمحمد. ۱۳۶۱.دافغانستان پاڼريژې ميوې ،دکرنې پوهنځی،دکابل پوهنتون خپرونې .مخونه ۱۵۴-۳۲۱.

۲- شيرزاد،بازمحمد.۱۳۶۸. دتل شنوپاڼو ونو ميوې ،دکرنې پوهنځی ،دکابل پوهنتون خپرونې .مخونه ۶۳-۸۲.

3- Hopkins, W.G., and Huner, N.P.A. 2008 .Introduction to Plant Physiology .The University of Western Ontario. Pp .442-446.

4- Malik, M .N. 1994. Horticulture. National Book foundation, Islam Abad, Pakistan . Pp. 468-469.

5- Sherzad, B.M.1971.Laboratory Manual for pomology and plant propagation. Faculty of Agriculture, Kabul University.Pp.121-145.

6- Taiz, L., and Zeiger,E. 1998. Plant Physiology. Second Edition,Sinauer Associate,Inc., Publishers, Sunderland, Massachusetts.Pp.155-234.

7- West, Wood. W.M. 1988.Temperate- zone pomology. Timber press. pp 83-89.

8- Wilson, M.F., and C.J .whelon. 1990. The evolution of fruit coloringfleshy- plants. Pp 79-89.

Abstract

Assistant Professor Sayed Samiullah Hakimi,
Department of Horticulture

Fruit color development

During different stages of fruit repining, some characters as a color, firmness and polysaccharides to monosaccharides are change in the fruit structure.

Fruits take/show different kind of color during the repining stage which is due to the genetically characteristics. In addition to that, many other factors such as plant physiology, pigments, cold weather, light, fertilizer and plant growth regulators are causes fruits color development.

For the establishment of fruit trees orchard, suitable site must be selected, to have a fair climacteric condition, because this condition directly influence the physiological activity of fruit trees.

The balance between fruits and leaves must be kept on each shoot of fruit trees. Also fruits thinning, green pruning, usage of chemicals on fruits, increase fruit color and it is also important for the gardeners to apply them at exact time on fruit tree

برنامه ملی تصدیق تولید نهالهای مثمردرافغانستان

شرف الدین شرف مسؤل خدمات تنظیمی مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان(ممقا)

مقدمه

به همه گان معلوم است که تولید معیاری میوه جات در بهتر شدن زندگی دهاقین، باغداران وقوریه داران افغانستان اهمیت بزرگ داشته ودر رشد اقتصاد آنها تا ثیر مثبت می نماید ومهمتر از همه تولید میوه جایگاه مهم وخاص خودرا در زراعت افغانستان دارد.

نتایج رضایت بخش در ایجاد باغها میوه وابسته است به وسعت بخشیدن کیفیت وصحت مواد که برای تکثیر استفاده میشود وهمچنان نهالهای که برای تولید میوه غرس میشوند. مواد تکثیری نبات بنیاد است برای سودمندی، تنوع، صحت وکیفیت بخش باغداری .

کلکسیونهای میوه جات ومغزباب که با کمک مالی اتحادیه اروپا / پروژه انکشاف باغداری ایجاد شده، مطابق برنامه تصدیق ملی درختان میوه افغانستان منبع واساس مواد تکثیری برای تولید نهالهای تصدیقی می باشد.

انواع و ورایتی های میوه جات بعد از آزمایش ثبت شده واین ورایتی ها بصفت درختان نسلگیری در کلکسیون های ملی میوه جات ومغزباب نگهداری می شوند. مواد بدست آمده ازین درختان باید توزیع، تکثیر ومطابق برنامه تصدیق بفروش برسد که ردیابی و شفافیت کامل ازمواد اصلی را نشان میدهد.

پروژه انکشاف باغداری اتحادیه اروپا موازی با ایجاد کلکسیونهای ملی میوه جات ومغزباب افغانستان درتنظیم قوریه داران، انکشاف صنعت قوریه داری افغانستان کمک مالی نموده ودرایجاد مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان همکاری بزرگی نموده است.

مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان(ممقا) درسال ۱۳۸۷ تشکیل شده وبحیث یک نهاد غیر دولتی در وزارت اقتصادجمهوری اسلامی افغانستان ثبت شده است واین نهاد درسطح ملی درآس قوریه داران افغانستان قرارداشته ومتشکل ازاکثریت قوریه داران افغانستان که در انجمنهای قوریه داران محلی تنظیم هستند می باشد.

ممقا داوطلبانه برنامه تولید تصدیقی نهالهای مثمررا مطابق تفاهم نامه که با وزارت زراعت، آبیاری ومالداری دارد الی شروع کارریاست تصدیق تخم وموادنباتی که درچوکات وزارت محترم زراعت، آبیاری ومالداری است پیش می برد.

ممقا فعلاً بیشتر از ۱۰۰۰عضودارد که در ۳۰ انجمن محلی قوریه داران که انجمنها عضو ممقا می باشندتنظیم هستند. این انجمنها ها به صفت نهاد های حرفوی در وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان ثبت هستند ودر ۲۲ ولایت (کابل، بلخ، سمنگان، بغلان، کندز، تخار، بدخشان، پروان، کاپیسا، میدان وردک، ننگرهار، لغمان، کنرها، غزنی، زابل، کندهار، هلمند، هرات، لوگر، پکتیا، بامیان وخوست)افغانستان رسماً فعالیت دارند. ممقا مطابق برنامه ملی تصدیق درختان میوه افغانستان کارهای خودرا به پیش میبرد

ودر مجموع به تعداد ۱۱۵۱۶ درخت مادری ثبت شده از۱۶ نوع میوه و ورایتی های قابل مارکیت از (بادام، زردآلو، شفتالو، آلو، گیلاس، انگور، انار، سیب، ناک، انجیر، لوکات همچنان از خاندان ستروس چکوتره، لیمو، ماندرین، نارنج تانجیلو) رادر ۶۹ قوریه های مادری انجمنهای عضو خویش دارد. تولید وفروشات نهالهای تصدیقی ممقا همه ساله رو به افزایش چشم گیری می باشد. سال ۱۳۹۴ دور پنجم فروشات نهالهای تصدیقی ممقا می باشد، که بیشتر از ۱,۵ ملیون نهالهای تصدیقی بامعیارهای تعین شده ممقا را آماده فروش دارد، درحالیکه پنج سال قبل نهالهای تصدیقی از انواع و ورایتی های محدود بوده وتعداد شان به چهارصد هزار نهالهای تصدیق نمی رسید.

ممقا با داشتن امکانات محدود خویش به تعداد بیشتر از ۱۲۵۰۰ پایه های ریشه یی (پایه های مادری) (M9, B9, M25, M7, MM111, MM106, Colt, Mazard, Myrobolan) را در ستولبید ها قوریه های مادری انجمنهای عضو خویش تنظیم نموده وامسال در حدود یک صدوپنجاه هزار نهالهای تصدیقی که بالای پایه های مادری غیرزوجی پیوند شده اند آماده فروش دارد و انشاالله در پلان دارد که تمام نهالهای تصدیقی خویش را در آینده بالای پایه های مادری غیرزوجی تولید نماید.

هدف

هدف برنامه ملی تصدیق نهالهای مثمر افغانستان تهیه نهالهای میوه های تجارتی تصدیق شده؛ نوع مطابق به اصل؛ صحتمند وقوی برای باغداران وسایر مشتریان میباشد.

نیازمندیهای عمومی

۱.قوریه مادری:

قوریه های مادری عبارت از مواد تکثیری تصدیق شده مانند تخم؛ پیوند و پایه های ریشه یی قابل فروش وثبت شده یکی از انجمنهای عضو ممقا بوده ودارای شرایط ذیل میباشد:

a)مواد تکثیری برای ایجاد قوریه مادری از کلکسیون ملی میوه جات آمده باشد

b)پیوند؛ تخم وپایه های ریشه یی ازیکی قوریه های مادری ثبت(راجستر) شده آمده باشد

c)قوریه مادری ثبت شده از طرف مفتش ممقارسماً تفتیش وتصدیق شده باشد

d)اصلیت وجنسیت مواد بذری مانند پیوند؛ تخم وپایه های ریشه یی بندل شده و لیبل آن درست و واضح باشد

قوریه دارانکه خواهش اشتراک در سیستم تصدیق تولید نهالهای مثمر را دارند باید عضویت رسمی یکی از انجمنهای عضو ممقارا داشته باشند. اعضأ برای دریافت مواد بذری (قوریه مادری) باید فورم درخواست برای ثبت (راجستر) قوریه مادری راخانه پری نمایند.

بعد ازاینکه مواد قوریه مادری به مالک قوریه دار میرسد فورم تصدیق ثبت تفتیش میشود که معیارهای برنامه تصدیق را داشته باشد.

۲ نهالهای تصدیقی و پایه های ریشه یی

نهالهای تصدیقی وپایه های ریشه یی قابل فروش اعضای انجمنهای شرایط ذیل راباید داشته باشند:

a) مواد تکثیری باید ازقوریه های مادری ثبت شده انجمنها آمده باشد

b) نهالها باید از قوریه های ثبت شده انجمنها آمده باشد

c) قوریه های ثبت شده باید توسط مفتش ممقا رسمی تفتیش وتاید شده باشد

d) نهالهای تصدیقی باید لیبل های که گواهی تصدیق را میکند داشته باشد

اعضا باید فورم درخواست برای ثبت قوریه با خانه پری فورم بدهند

قوریه دار باید درخواست شامل ساختن نهالها در برنامه تصدیق با خانه پری فورم نماید

بعد از بدست آوردن تصدیق ثبت قوریه باید تفتیش شود اگر قوریه تمام معیارهای سیستم تصدیق را داشت شخص صلاحیت دارممقا اجازه چاپ لیبل تصدیق را میدهد

۳ معیار های درختان مادری

أ) موقعیت غرس کردن باید مورد تائید تیم تخنیکی ممقا بوده و در ساحه مناسب برای رشد سالم و حد اقل خطرات انتشار آفات و امراض ساری قرار داشته باشد.

ب) آب برای آبیاری باید ملوث نباشد (نباید از آبی که دوباره جریان نموده است استفاده شود، مگر این که به قدر کافی پاک و ضدعفونی شده باشد). از ساحاتی که در آن آب قوریه ها و باغ های دیگر می آید اجتناب به عمل آید.

ج) برای کاهش خطر امراض که از خاک انتقال مینماید، درجای که درختان مادری مثمر غرس میشوند باید قبلاً عین جنس درختان مثمرغرس نشده باشد.

د) نباتاتی که در برنامه شامل میگردند باید درشرایط خوب پرورش گردند و آفات به صورت درست کنترول شوند. احتیاط های لازم در قسمت زرع، آبیاری و کار های دیگر زراعتی جهت جلوگیری از انتشار امراض اتخاذ گردد.

أ) مواد و ابزار باید ضد عفونی گردندو تنها برای نهال های مورد نظر به کار روند. قیچی باید بعد از شاخه بری هر کلون ضد عفونی گردد.

ب) نباید انواع غیرخودش وجود داشته باشد (اگر انواع غیر خودش به نظر رسید باید دور ساخته شود)

ج) درختان مادری باید از کلون های ثبت شده که درستیشن های تحقیقاتی ریاست تحقیقات وزارت زراعت، آبیاری ومالداری است ویا منابع دیگر مورد تائید تیم تخنیکی ممقا نگهداری میشود منشاء گرفته باشند.

د) درختان مادری نباید در حدود ۵ متری نهال های ثبت ناشده عین جنس قرار گیرد. در یک بلاک ثبت شده درختان مادری تنها درختان ثبت شده اجازه دارند. درختان مادری ثبت شده تازمانی که درست بودن و اصلی بودن نوع آن مشخص نشده باشد برای تکثیر مورد استفاده قرار نگیرند.

ه) باید بین نهال های مادری کلون های مختلف در عین قطار یک درخت فاصله باشد (یعنی اگر درختان به فاصله 1. 5متر از هم قرار دارند، آنگاه باید این فاصله 3 متر باشد).

و) باید در آغاز هر نوع/ کلون درختان مادری یک لوحه قرار داده شود که در آن شماره قطار و شماره کلون نشان داده شود. لوحه ها باید در آغاز هر قطار جدید نیز نصب گردند.

ز) هر درخت مادری باید یک شماره دایمی داشته باشد. باید درختان مادری به شکلی که مورد تائید نهاد تصدیق کننده فعلی(مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان– پروژه انکشاف باغداری) باشد ورق شناسایی زده شود.

ح) همه درختان مادری باید در یک نقشه ساده ثبت گردد که در آن هویت و موقعیت آنها بر حسب شماره قطار و موقعیت نسبی در بین قطار ها نظر به هویت و موقعیت اصلی در قوریه نشان داده میشود.

ط) درختان مادری باید طوری غرس و مراقبت گردد که فاصله کافی بین شاخچه های کلون های مختلف وجود داشته و شاخه های کلون های مختلف بالای همدیگر قرار نگیرند.

ي) در حدود یک متری درختان مادری هیچگونه گیاهان هرزه وجود نداشته ویا نباتات دیگر کشت شده باشند.زمین بلاک درختان مادری به مسافه ۵ متری، دورادور آن باید پاک نگهداشته شود ویا دارای یک پوشش مورد تائید و کنترول شده باشد.

ك) برای اطمینان از این که بازرسی های لازم توسط این برنامه به صورت درست انجام شده و معلومات کاری دقیق در مورد فعالیت های ساحوی فراهم گردد، قوریه داران (ممقا) را پیش از پیش در مورد کشیدن نهال های که در برنامه شامل گردیده اند آگاه سازند تا قبل از انجام کار تائید افراد تخنیکی صورت بگیرد.

ل) بالای درختان مادری تصدیق شده نباید هیچگونه پندک، شاخچه و اسکنه پیوند صورت گیرد.

م) شگوفه ها باید قبل از این که باز گردند دور ساخته شوند.



شکل -۱ :نمای قوریه مادری انجمن قوریه داران لغمان، انجمن عضو مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان (ممقا)

معیار های نهال های پیوندی مثمر تصــدیق شده

نوت: معیارهای ذیل(از الف الی و)مشـــابه به معیارهای درخـتان مادری بوده که باید درنهال های مثمر تصـدیقی نیز یکســان مد نظر گرفته شــود. امید معیار های ذکر شــده مکرر تلقی نگردد.

أ. هر موقعیت قوریه تصــدیقی باید مورد تائید پروژه انکشـــــاف باغداری بوده و در ساحه مناسـب برای رشـد سـالم و حد اقل خطرات انتشار آفات و امراض ساری قرار داشته باشد.

ب. آب برای آبیاری باید ملوث نباشد (نباید از آبی که دوباره جریان نموده است استفاده شود مگر این که به قدر کافی پاک و ضدعفونی شده باشد). از سـاحاتی که در آن آب قوریه ها و باغ های دیگر می آید اجتناب به عمل آید.

ج. بــرای کاهش خطــر امــراض که از خاک انتقال مینماید، در جای قوریه ازعین جنس باید قوریه عین جنس ایجاد نشود.

د. نهال های که در برنامه شـــامل میگردند باید درشرایط خوب پــرورش گـــردند و آفات به صورت درست کنترول شوند. احتیاط های لازم در قســـــمت زرع، آبیاری و کار های دیگر زراعتی جهت جلوگیری از انتشـــــار امراض اتخاذ گردد.

ه. مواد و ابزار باید ضـــد عفونی گردندو تنها برای درختان مورد نظر به کار روند. قیچی باید بعد از شاخه بری هر کلون ضد عفونی گردد.

و. نباید انواع غیر خودش وجود داشته باشـد (اگر انواع غیر خودش به نظر رســید باید دور ساخته شود)

ز. نهال های ثبت شــده باید به فاصـــله کافی غرس گردند تا هویت شـان حفظ گردد. باید بین نهال های کلون های مختلف در عین قطار یک مسافه مشخص (حد اقل ۸۰ سانتی متر) وجود داشته باشد.

ح. منبع همه نهال های پیوندی تصدیق شده از پایه مادری باشد.

ط. پایه های مادری دوباره پیوند نمیگردد مگــر این که پایه مادری از عـــــین درخت مادری تصــدیق شده که در ابتدا پیوند شده بود دوباره پیوند گردد.

ي. نهال های پیوندی درختان میوه که بـــرای تصدیق شدن پرورش داده میشـوند باید به روی پایه های مادری مورد تائید تیم تخنیکـــی ممقا باشــــد. در آینده پایه های مادری از درختان تخمی ثبت شـده ویا از ســتولبید ثبت شــده حاصـــل خواهد شـــد، تا آن وقت، نهال های پیوندی درختان مثمر برای تصــــدیق شدن را میتوان به روی پایه های مادری تصدیق ناشده پرورش داد.

ك. مواد پیوند (پندک/ قلمه، شاخچه پیوند) باید از درختان مادری ثبت شــده که در قوریه های درختان مادری ثبت شده نگهداری میشـــوند منشاء گرفته باشند.

ل. در حدود ۱ متری نهال ها نـباید هــیچگونه گیاهان هرزه ویا نباتات وسـطی وجود داشــته باشند.زمین (بلاک) نهال ها به مسافه ۵ متری دورادور آن باید پاک نگهداشــته شـــود ویا دارای یک پوشـش مورد تائید و کنترول شــده باشد.

م - در هنگام فروش، همه نهال های تصــــدیق شــــده که شرایط لازم این طرح را دارند، باید طبق روش های تجارتی بســته بندی شده و به وسیله ورق شناسایی های چاپی خوانا که در آن کلون، پایه مادری و شماره تصــــدیق نامه ذکر است شناسایی گردند.



شکل-۲:مفتشین مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان درحالت تفتیش یکی ازقوریه های تصدیقی انجمن قوریه داران ولایت لوگر



شکل -3:تولید پایه های ریشه یی در ستولبید انجمن امام قتیبه (رح)، انجمن عضو مؤسسه ملی قوریه داران افغانستان (ممقا)

نتیجه گیری

۱- مقررات ایجاد شده برنامه ملی تصدیق درختان میوه افغانستان مطابق نیازمندیها مواد بذری ودستورالعمل حالت ثبت، اطاعت از محتویات درخواستی ها، امتحانات تخنیکی رسمی، گذارش از امتحانات، تصمیمگیری برای ثبت، مدت اعتبار وتجدید، لغو(رد) کردن مواد ونگهداری ورایتیها درقوریه های مادری می باشد.

۲- شناسایی منابع مواد نباتی تصدیقی برای تکثیر تصدیقی یعنی مواد نباتی تصدیق شده که قوریه های مادری تصدیقی از آنها ایجاد میشود باید از کلکسیونهای ملی میوه جات افغانستان که درچوکات ریاست تحقیقات وزارت زراعت، آبیاری ومالداری ویا دیگر منابع معتبر که اسناد مکمل پروسه تصدیق را داشته باشد آمده باشد

۳- همچنان برنامه ملی تصدیق درختان میوه افغانستان برای ما معلومات میدهد که مواد نباتی تصدیقی که برای تکثیر قوریه های تصدیقی استفاده می شود باید از قوریه های مادری ویا منابع با اعتبار که تمام اسناد تصدیقی آن تکمیل باشد منشأ می گیرد.

۴- مواد نباتی تصدیقی در قوریه های مادری وقوریه های تولیدی تصدیقی اسناد مکمل ثبت داشته وقوریه های مادری سالانه حد اقل یک مرتبه وازقوریه های تولیدی تصدیقی حد اقل دو مرتبه تفتیش صورت می گیرد

۵- مواد نباتی تصدیقی که جهت تکثیر تصدیقی استفاده می شود اسناد مکمل (Passport data) داشته وبطور همیش تحت آزمایش های صحی بوده واز نگاه صحی باید کدام مشکل نداشته باشند

٦- قوریه تولیدی تصدیقی همیشه تحت مراقبت جدی بوده وباید معیارها تعین شده ممقا ازشروع ایجاد قوریه الی کشیدن نهال که آخرین مرحله تصدیق داشتن لیبل ممقا می باشد داشته باشد.

۷- با تطبیق نمودن برنامه ملی تصدیق درختان میوه افغانستان می توانیم اصلاحات را درتولید نهالها آورده وصنعت قوریه داری را درافغنستان رشد بدهیم که درنتجه سطح زندگی قوریه داران بهبود می بخشیم.

۸- تطبیق درست برنامه ملی تصدیق درختان افغانستان باعث ایجاد باغهای تجارتی شده ودررشد اقتصاد باغداران، تجار میوه وبلاخره دراقتصاد افغانستان تأثیر به سزای دارد

مأخذ

۱. پیش نویس پالیسی ملی باغداری / سال ۲۰۱۳، صفحه های (۷، ۸، ۹، ۱۱، ۱۲ و ۱۴)

۲. پیش نویس رهنما برنامه ملی تصدیق درختان میوه افغانستان / سال ۲۰۱۳، صفحه های (۴، ۵، ۷، ۸، ۹ و ۱۰)

۳. کلکسیون ملی میوه جات ومغزباب افغانستان / سال ۲۰۱۴، جلد اول، بادام، صفحه های (۹، ١٦ و ۱۷)

۴. کلکسیون ملی میوه جات ومغزباب افغانستان / سال ۲۰۱۵، جلد دوم، زردآلو، صفحه های (۷، ۱۹ و ۲۰)

خصوصیات فزیکی و کیمیاوی میوه جات در جریان پخته شدن و بعد از رفع حاصل

محمدولی عادل معاون تحقیقات تطبیقی موسسه ملی انکشاف باغداری افغانستان

مقدمه

میوه جات یکی از جز اساسی مواد غذایی انسانها است که یک منبع خوب انرژی، ویتامین ها، منرال ها، فایبر و انتی اکسیدان ها میباشد. کیفیت میوه عبارت از مجموع خصوصیات فزیکی و کیمیاوی میوه در وقت رفع حاصل و بعد از رفع حاصل که بتواند قناعت مصرف کننده گان را بدست بی‌آورد. وسایل معلوم نمودن کیفیت میوه جات در مراکز تولید وتجارت میوه جات مورد استفاده میشود مثلأ در باغ ها توسط دهاقین، فابریکه های بسته بندی میوه جات،سرد خانه ها، مراکز ترانسپورتی، پروسس کننده گان و بازار های میوه جات.

برای مصرف کننده گان میوه جات، میوه باید شکل بهتر، مزه بهتر و ارزش غذایی خوب داشته باشد و انها در مارکیټ میوه را به اساس شکل ظاهری و بافت ان مخرده برای تولید کننده گان میوه نه تنها شکل ظاهری وبافت میوه ارزش دارد بلکه طول عمر میوه بعد از رفع حاصل هم ارزش زیاد دارد تا محصول انها بعد از ذخیره شدن به مصرف کننده گان به کیفیت خوب برسد. وقت رفع حاصل و دانستن خصوصیات فزیکی و کیمیاوی میوه جات بسیار رول اساسی در کیفیت میوه جات دارد. اگر میوه در حالت خام رفع حاصل شود کیفیت بسیار خراب خواهد داشت و قابل ذخیره و بازاریابی نخواهد بود، ولی اگر بسیار پخته رفع حاصل شود زود نرم خواهد شود و کیفیت خود را از دست میدهد پس هر میوه که بسیار زود ویا بسیار ناوقت رفع حاصل شود کیفیت خود را در جریان بعد از رفع حاصل از دست خواهد داد.

برای حل این مشکل دهاقین باید تشویق شود تا برای میوه جات خود شاخص های رفع حاصل تعین کند. چند فکتور های اساسی که میتواند شاخص های رفع حاصل را در باغ ها و کیفیت میوه جات را در فابریکه های بسته بندی،سرد خانه ها، مراکز ترانسپورتی، پروسس کننده گان و بازار های میوه جات تعین کند عبارت از خصوصیات فزیکی میوه مثلا وزن، سایز یا گرید، رنگ، نرمی و سختی، قد و قطر و خصوصیات کیمیاوی میوه مثلا قند، ، پی اچ و تیزابیت آن می باشد. بعضی از این شاخص ها در میوه جات مختلف باراز میباشد . مثلأ برای معلوم نمودن پختگی میوه ستروس رنگ میوه، نسبت قند وتیزابیت میوه و اندازه جوس آن زیات استفاده میشود ولی برای میوه شفتالو رنگ و نرمی و سختی میوه زیات استفاده میشود.

فابریکه های بسته بندی میوه جات کیفیت میوه را توسط وسایل پیشرفته معلوم میکند که میتواند به اندازه کلان محصول را از رسیدن به فابریکه تا بسته بندی ارزیابی کند. ولی به سطح کوچک مثلأ در باغ ها،سرد خانه ها، فابریکات پروسس، مراکز تحقیقاتی و مارکیټ های میوه ما میتوانیم وسایل را استفاده کنیم که قابل انتقال یا Portable باشد.

مراکز انکشاف باغداری افغانستان که در شش زون اقلیمی وجود دارد دارای لابراتوار های میوه جات میباشد.

این لابراتوار ها دارای وسایل اساسی برای تشخیص خصوصیات فزیکی و کیمیاوی میوه جات است. موسسه ملی انکشاف باغداری افغانستان این لابراتوار ها را برای تشخیص انواع از میوه جات کلکسیون های ملی، معلوم نمودن وقت رفع حاصل، شاخص های رفع حاصل و تنظیم بعد از رفع حاصل استفاده میکند.

خصوصیات اساسی فزیکی و کیمیاوی میوه جات و وسایل تشخیص آن


۱. سایز میوه

سایز میوه یک از مهم ترین فکتورها در بازاریابی میوه جات است، سایز میوه بخاطر تنظیم امور بسته بندی و ترانسپورت بسیار ضروری میباشد. سایز میوه مربوط به عوامل مثل نوع میوه، پایه مادری، ابیاری، عوامل محیطی و تنظیم باغ است. به هر اندازه که حاصل درخت زیاد از حد باشد و یکه کاری نشده باشد سایز میوه کمتر خواهد بود. سایز میوه را میتوان هم به اساس وزن و هم به اساس ابعاد هندسی آن مشخص کنیم. وزن میوه را میتوان توسط ترازو معلوم نمایم ولی بخاطر معلوم نمودن سایز میوه به اساس ابعاد آن آله ستندرد وجود دارد که به نام اندازه کننده میوه یا Fruit standard sizer یاد میشود.

در فابریکه های بسته بندی سایز میوه توسط ماشین های پیشرفته مشخص می شود که قابل شناسایی اندازه قد، قطر و محیط میوه میباشد و میوه جات را به اساس سایز سورت بندی میکند. عملیه سورت بندی میوه جات به اساس سایز، رنگ، ورایتی، وزن و دیگر خصوصیات بنام Fruit grading یاد میشود.

بخاطر اندازه گیری ابعاد میوه (قد، قطر و محیط میوه) که در مجموع نماینده گی از سایز میوه کرده میتواند وسایل موجود که میتوانیم در باغ ها از آن استفاده کنیم. برای معلوم نمودن قد و قطر میوه آله بنام Calliper استفاده میشود و برای معلوم نمودن محیط میوه آله بنام Universal sizer استفاده میشود.

شکل-۱: اندازه کننده میوه (Fruit Sizer)



شکل- ۲: کلیپر (caliper)



شکل- ۳: یونیورسل سایزر (Universal sizer)

۲. رنگ میوه

رنگ میوه توسط پگمنت های مختلف تشخیص میشود که در پوست و انساج گوشتی میوه وجود دارد. وقتیکه میوه پخته میشود رنگ خود را تغیر میدهد. رنگ میوه را میتوان توسط چشم مشخص کنیم ولی وسایل وجود دارد که توسط ان ما میتوانیم رنگ میوه را مشخص کنیم. اول توسط چارت رنگ میوه که بنام Fruit color chart یاد میشود.



شکل-۴: Colorimeter (اندازه کننده رنگ)

این نوعه چارت ها برای هر نوعه از میوه فرق میکند.
رنگ میوه را همچنان میتوانیم توسط آله که بنام Colorimeter یاد میشود معلوم نمایم. این آله میتواند پگمنت های که در پوست میوه است شناسایی کند و رنگ میوه را مشخص کند.



شکل- ۵: چارت رنگ میوه

۳. نرمی و سختی میوه

نرمی و سختی میوه یک شاخص بسیار خوب برای تعین وقت و شاخص های رفع حاصل و معلوم نمودن قابلیت ذخیره میوه جات میباشد. وقتیکه میوه پخته میشود مواد بین حجرات شان منحل میشود و میوه نرم میشود. در فابریکه های بسته بندی اگر نرمی و سختی میوه از حد خود پایین باشد، میوه را رد میکند بخاطر که عمر نگاه داشت میوه بسیار کم میباشد.
نرمی و سختی میوه توسط آله Penetrometer اندازه گیری میشود. برای معلوم نمودن نرمی و سختی میوه باید از هر دو طرف میوه پوست جدا شود و پلنجر یا آله که بالای Penetrometer وصل است به اندازه ۰.٦ سانتی متر داخل میوه شود. به هر اندازه که میوه نرم و یا سخت باشد به همان اندازه بالای آله Penetrometer فشار وارد میکند و نرمی و سختی میوه را به کیلو گرام یا پاوند نشان میدهد.
Penetrometer عموما دارای دو نوع پلنجر میباشد که کلان و خورد میباشد و برای میوه جات مختلف فرق میکند.



شکل-۶: فینوترومتر (penertromater)

۴ - قند میوه

وقتیکه میوه پخته میشود نشایسته ان به قند تبدیل میشود. Total soluble solids (TSS) یا درجه Brix میوه جات عبارت از اندازه مواد جامد منحل در جوس میوه جات میباشد. اینها عموماً قند میباشد ولی در ان اندازه کم از تیزاب های عضوی، ویتامین ها، پروتین، امینو اسید، روغن و گلوکوسایدها هم میباشد. حاصل درخت باید یکه کاری شود تا میوه جات قند کافی داشته باشد. در سال های که نور افتاب شدید، درجه حرارت بلند و رطوبت کم باشد میوه جات فیصدی قند خود را ازدیاد میدهد. قند میوه همچنان مربوط به موقعیت میوه بالای درخت میباشد. میوه جات که طرف نور افتاب در درخت موقعیت داشته باشد فیصدی قند بلند میباشد. میوه جات که در سایه و یا بین درخت موقعیت داشته باشد فیصدی قند شان کمتر خواهد بود.
برای معلوم نمودن فیصدی مواد جامد منحل آله Referactometer استفاده میشود آله Referactometer دارای دو نوع میباشد که یک ان Manual Referactometer یا شکرسنج دستی و دیگر آن Digital Referactometer یا شکر سنج دیجیتلی میباشد.
در شکر سنج دستی یک قطره از جوس میوه بالای شیشه شکر سنج انداخته میشود و انرا طرف نور افتاب میگیریم، داخل شکرسنج رقم که نشان میدهد عبارت از فیصدی مواد جامد منحل که عبارت از قند است نشان خواهد داد.
در شکر سنج دیجیتل یک قطره از جوس میوه در قالب شکر سنج انداخته میشود و تکمه start(آغاز) را فشار دهید بعدا از چند ثانیه شکر سنج دیجتلی برای شما فیصدی مواد جامد منحل یا قند را نشان خواهد داد.



شکل- ۷ : Digital Referactometer (دیجیتل ریفرکتومتر)



(Manual Referactometer) شکل- ۸: شکر سنج دستی

۵- پی ایچ میوه

پـی ایچ عبارت از اندازه گیــری غلظت ایون هایدروجن میباشـــــد. پی ایچ یک از مهمترین فکتور برای معلوم نمودن کیفیت میوه جات است. پی ایچ رول اساسـی در جریان کنترول کیفیت میوه جات خام، پروسس شده و در جریان پروسـس دارد. در پروسـس میوه جات پی ایچ در معلوم نمودن مزه، تازه بودن و تعین عمر محصـول بسـیار کمک مـــــــــــــیکـــــــــــــــند.


برای معلوم نمودن پی ایچ آله پی ایچ میتر یا pH Meter استفاده میشـود. پی ایچ میتر انواع زیاد دارد ولی معمولا دو نوع اسـت که یک ان پی ایچ میتر دسـتی یا -Hand held pH meter و دیگــر ان پـــی ایچ میتر میـــزی یا Bench top pH meter است .



شکل- ۹: پی ۱۹چ متر میزی
(Bench top PH mater)

٦- تیـــــــــــــــــــــــــزابیت میوه

میوه جات عموما سه نوعه تیزاب های عضوی دارد که عــــبارت از tartaric acid, malic acid و citric acid می باشـــد. این تیزاب ها برای میوه جات مختلف فرق میکند. این تیزاب های عضـوی در مـزه،رنگ و حفظ میوه از میکـــروب ها کمک میکند. میوه جات وقتیکه پخته میشــــود اندازه تیزابیت خود را پایین مـی آورد بخاطـریکه پـی ایچ میوه زیاد میشــود. تنها تیزابیت برای معلوم نمودن کیفیت میوه جات کافی نیست، اما نسبت تیزابیت و قند میوه بســیار خوب شاخص برای معلوم نمودن وقت رفع حاصــل و کیفیت میوه جات میباشـــد. Titratable acidity را میتوان توســــط عملیه titrating مشـــــخص کنیم، در این عملیه نمونه جوس میوه با یک اساس یا base که عبارت است از سودیم هایدروکساید منحل میشـود تا وقتیکه پی ایچ محلول به ۸.۱ برسـد. بخاطر عملیه titrating ما burette، pH meter، سودیم هایدورکسـاید و shaker که محلول را شور میدهد ضرورت داریم.



شکل - ۱۰

نتیجه گیری

فکتور های بسیار مهم کیفیت برای مصرف کننده گان میوه جات است. (تکســـــچر)،رنگ میوه، شکل ظاهری، مزه میوه و ساختمان آن بخاطر داشتن این خصـوصیات، تولید کننده گان میوه جات باید برای محصــول خود میعارهای کیفیت تعین کند که در ان خصــوصیات ذکر شده در نظر گرفته شده باشد تا محصـول انها هم قابلیت ذخیره شدن داشته باشد و هم دررسیدن به مصـــرف کننده کیفیت خوب داشته باشد. دهاقین باید میوه را در وقت رفع حاصل کند که به حالت مناسب پختگی رسـیده باشـد. در جریان رفع حاصل خصوصاً میوه جات که بعد از رفع حاصل کیفیت خود را تغیر میدهد فاصله و وقت رسیدگی بین باغ، مارکیت و مشـتری باید در نظر گرفته شـود تا در این مدت میوه کیفیت خود را از دسـت نه دهد. پس برای حل این مشــــکل میوه در وقت مناسب رفع حاصل شود و توسط وسایل ذکر شده شاخص های رفع آن تعین شود.

مأخذ

1. Knee,M.(2002). Fruit quality and its biological basis. Univ ohio state. PP. 10-13.
